مورچل

دیارلسم کال، اوومه، پرلپسې ۱۳۱مه گڼه،
ذي قعدة الحرام ۱۴۴۰هـ ق، جولای ۲۰۱۹م

«لاسته راورنې»
چا لاسته راوړې ؟!

- دهیواد دآزادی،توافق او په کابل رژیم لکېدلې خپسکه!
- اتم مذاکراتي پراو ... هیلې او اندېښنې!
- له تخاره د فتحو زیري
- شورای نام نهاد صلح ؛ از آغاز تا انجام
- اندونیزیا ته د اسلامي امارت دپلاوي سفر دسیاسي باوریو بل مظهر
- اشرف غني که امریکایي ببرک کارمل

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال اوومه، پرلپسې ۱۳۱مه گڼه،
ذي القعدة ۱۴۴۰هـق جولای ۲۰۱۹م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	اتم مذاکراتي پراو ... هیلې او اندیښنې !	۲
۳	له تخاره د فتحو زېرې	۴
۴	دهیواد د آزادۍ توافق او په کابل رژیم لګېدلې	۶
۵	جنګ غوښتونکي جنرالان دې له ترمپ زده کړي	۸
۶	د ماشومانو د ملاتړ سازمان او نا انصافه چلند یې	۱۲
۷	شورای نام نهاد صلح؛ از آغاز تا انجام	۱۵
۸	اندونیزیا ته د اسلامي امارت د پلاوي سفر	۱۸
۹	اشرف غني که امریکایي ببرک کارمل	۲۲
۱۰	د ترمپ تازه ګواښ د امریکا اصلي څېره روښانه کړه!	۲۴
۱۱	د مجاهدینو د بریالیتوب لاملونه	۲۷
۱۲	جنګي جنایتونه (جولای)	۲۹
۱۳	دکابل شړلې او ترلې اداره کې د هغې د چارواکو رول	۳۲
۱۴	په روغتونونو دبمبار په اړه دصحت کمیسیون اعلامیه	۳۷
۱۵	د اسلام غزوات او سرایا	۳۸
۱۶	د مورچل وړمې	۴۶
۱۷	د۲۰۱۹م کال د جولای میاشتې جهادي خبرونه	۴۴

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

"لاسته راوړنې" چا لاسته راوړې؟!

دهيواد داشغال په وړاندې داستقلال مبارزه بالاخره داسې حد ته ورسېدله چې نور يې بری سل په سلو يقيني شو او دادی دافغانستان دښمنانو دهيواد استقلال ومانه، دغربي تاړاک مغرور جنرالان به تېتې سترګې له هيواده وځي، او مجبوراً به افغانستان افغانانو ته پرېږدي، داکوم سازش او معامله نه ده، بلکې دسرښندونکي ملت د قهرمانو بچيانو (طالبانو) نه سترې کېدونکې وسله واله مبارزه او زور دی چې په کبر اوغرور راغلي غربي اشغالګر وتو ته مجبوروي .

دا لاسته راوړنه ده، داسې لاسته راوړنه چې ددې هيواد په تاريخ کې به يو زرين باب وي لکه نن چې له پرونيو فرنګي غربيانو د استقلال ورځې لمانځو، همداسې به زمونږ نسلونه دخپلو اسلافو دمېرانې او سرښندنو دغه ورځې لمانځي، دا لاسته راوړنه تردې خاورې محدوده نه ده، لکه دخپل وخت ستر ابرقدرت شوروي چې ددې خاورې او دې ولس له زوره درې وړې شو اوپه درجنو هيوادونه يې دغلامۍ له يوغه خلاص شول، همداسې به نړيوال ووينې چې ددې ستر شيطاني طاغوت له شره به ډېر محکوم نظامونه او ولسونه دآزادۍ ساه واخلي.

دا داسې لاسته راوړنه ده چې دهيواد په سطحه نه! بلکې دنړۍ په سطحه يې افغانستان او افغانان دتل لپاره سرلوړي او کامران کړل، اوس دې دوست اودښمن هرځوک داومني چې دا دومره اوږده او پېچلې جګړه دولس له پوره ملاتړ پرته ګټل ناشونې اوممکن نه وه، نو ښکاره ده چې ولس ته اشغال اوداشغال په سيوري کې واردې شوې غيراسلامي اوغير افغاني پديدې دمنلو نه دي څه معنی لاداچې لاسته راوړنې دې وبلل شي .

چې امن وي، کراري وي، جګړه نه وي، بمبار نه وي، مرګ نه وي او وير نه وي اشغال نه وي، نو دابادۍ، ښېرازۍ اوپرمختګ په لارکې بيا يوه خبنته اېښودل به هم ډېره لويه لاسته راوړنه وي .

تېر تاريخ ته په کتو هيواد تل هغونومورکو مخلصو بچيانو ساتلی او ګټلی چې نومونه يې ورک دي، خو کارنامې يې ژوندۍ دي، نن هم په هيواد کې ډېر داسې خلک شته چې ددغو سرښندونکومېرنيو قدر ورسره نه شته، خودا چې هغوی خپله وجيبه په اخلاص اونه هېرېدونکې ډول ترسره کړه، که له دوی سره يې قدر نه شته تاريخ به يې نه هيروي او راتلونکي نسلونه به يې قدر وپېژني .

اتم مذاکراتي پراو...
هیلې او اندیښنې!

شاهد (غزنیوال)

د روان کال د اسد د میاشتې په (۱۲) د قطر هیواد په پلازمینې دوحه کې د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ د مذاکراتي بهیر اتم پړاو پیلیدونکی دی.

دا پړاو له زماني حیثیته د جانبینو ترمنځ د یوه کلن مذاکراتي بهیر تر ټولو حساس پړاو دی.

تر اوسه پوري دواړو لوریو د اتم پړاو د جزئیاتو په اړه رسنیو ته څه نه دي ویلي، څه چې تر اوسه پوري رسنیو ته راوتلي هغه دا چې اسلامي امارت غواړي امریکایان د خپلو ټولو ځواکونو د وتلو مهال ویش تعین کړي.

او د امریکایانو غوښتنه داده چې اسلامي امارت له بهرنیو جهادي ډلو په تیره القاعده تنظیم سره خپلې اړیکې وشلوي او له خپلې ولکې لاندې ساحې څخه پر هغوی باندې د نه برید کولو ډاډ ورکړي.

د دې دوو مشخصو موضوعاتو ترڅنګ زلمي خلیلزاد له رسنیو سره د امریکایي ځواکونو د وتلو موضوع تر اور بند او بین الافغاني مذاکراتو پوري معطله کړې.

همدا خبره د طرفینو ترمنځ د مناقشې وړ ده او ښایي د تیرو ځلونو په څیر دا ځل هم په دې موضوع خبره اوږده شي.

د طالبانو د مذاکراتي ټیم غړي او د سیاسي دفتر اداري مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي له الاماره ویب پاڼې سره د یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې ویلي چې په دې پړاو کې به له امریکایانو

سره لـه افغانسـتان څخـه د هغـوي د ټولـو ځواکونـو وتلوخبره مطرح کيږي.

همـدا راز ښـاغلي حنفـي پـه دې اړه وضـاحت ورکړ چې د امريکايـانو د خـروج د مهـال ويـش تـر اعلان وروسته به پـر اور بنـد او بين الافغـاني تفـاهم خبره کيږي.

له بين الافغاني تفاهم څخه د اسلامي امارت او د هيواد د نورو سياسي جريانونو ترمنځ تفاهم هـدف دی چې کابل رژيم ته به ورکې د نظـام او حکومـت په حيث نه ؛ بلکې د هغه افرادو ته به د عـامو افغانـانو په حيث ورکې د مشارکت حق ورکول کيږي.

بله خـبره د اوربنـد ده چـې ډيـر کسـان يـې پـه امريکايي غوښتونو پوري مربوط يوه موضـوع بـولي خو د ښاغلي حنفي وضاحت پـه دې اړه دا دی چې زمونږ جهاد او مقاومت د بهرني اشغال په مقابل کـې پيل شوی ، کله چې بهرنی اشغال د يوه رسمي توافـق لـه مخـې پايتـه رسـيږي نـو نـور پـه افغانسـتان کـې د جګړې ضرورت نه پاتې کيږي.

دا بـه وروسـته ولـيدل شي چې اتم مذاکراتي پراو د چا په ګټه پايتـه رسـيږي، خو هغه څه چې د اسـلامي په موقف پوري تـړاو لـري، اسلامي امارت بـه لـه خپـل لوري پر داسـې څـه توافـق ونـــه کـــړي چـــې هغـــه د اسلامي او جهادي منافعو خلاف وي.

اتم مذاکراتي پراو د نورو هغو پـه نسبت ډيـر حساس او له خوف او رجاء نـه ډک دی ، ځکـه پـه دې پراو کې به د نـورو پـراوو نـو پـر خـلاف پـر يـوه معين انتخاب پريکړه کيږي چـې هغـه د افغانسـتان د اشغال خاتمه ده.

له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونـو وتـل هغـه مهمه لاسته راوړنه ده چې افغان مجاهـد ولـس يـې د تر لاسه کولو لپاره پـه تيـرو اتلسـو کلونـو کـې ډيـرې زياتې قربانۍ ورکړې.

خو دا چې زمونږ دښمن ډيـر مکـار او د جهـاد اومجاهدينو په مقابل کې له هيڅ چل او فريب څخه سپما نه کوي نو هغوی به خامخا د اتم مذاکراتي پراو په تاريخي موقع کې هم خپلې ماکرانه هڅې پـه کـار اچوي چې له يـې د امـارت د مـذاکراتي چـارواکو د زياتي بيداري او توجه ضرورت حس کيږي.

له تخاره
د فتحو زيري

حبيب مجاهد

د الفتح عملياتو په لړ کې که څه هم په درست هیواد کې په دښمن څپونکي بریدونه روان دي، خو په دې لړ کې تخار هغه ولایت دی چې مسلسل د مجاهدینو د سترو فتوحاتو، د دښمن د تلفاتو او سترو جهادي حماسو خبرونه تریې را رسیږي.

د روان کال د جون میاشتې په ۱۲ مه نیټه مجاهدینو د دې ولایت د خواجه غار، دشت قلعه، نمک آب او بهارک ولسوالیو کې پ دښمن هماهنګ بریدونه پیل کړل چې په نتیجه کې یې د خواجه غار مهمه ولسوالي په مکمل ډول فتحه، همدارنګه د بهارک ولسوالي کې د عنبره کوه سیمه او نمک اب کې هم پراخې برخې د مجاهدینو تر واک لاندې راغلې.د خواجه غارله فتحې دوه ورځې وروسته مجاهدینو د تخار په اشکمش د پام وړ پرمختګونه وکړل،د دې ولسوالی د د زربانه، صوفي حبیب، پنجري، پنجشیري، غوربندي، خوګیاني په نوم کلي او د دره کلان پراخه منطقه چې پخوا د دولتي اربکیانو او عسکرو تر واک لاندې وه په مکمل ډول د دښمن له شتون څخه تصفیه شو. له هلته میشتو تولو امنیتي پوستو سره یو ځای فتحه شوه.

د جون میاشتې په وروستیو کې دښمن د مفتوحه سیمو د بیرته قبضه کولو په غرض د تخار په اشکمش، نمک آب او بهارک ولسوالیو کې پوځي عملیات پیل کړل چې اته ورځې یې جریان درلود. د

اسلامي امارت زړورو مجاهدينو ددښمن د عملياتو په وړاندې په ميړانه مقاومت وکړ، په بيلابيلو سيمو کې يې د دښمن ټانګونه په ماينونه منفجر او په پياده عسکرو يې مرګوني بريدونه ترسره کړل تر دې چې دښمن اړ شو چې خپل عمليات په ناکامۍ سره پای ته ورسوي او بيرته له سيمې پښې سپکې کړي.

د دښمن له تيښتې وروسته مجاهدينو يوځل فاتحانه بريدونه پيل کړل. د جولای مياشتې په لومړۍ نيټه د تخار د ولايتي شورا غړو رسنيو ته وويل چې دتخار مرکز د سقوط له خطر سره مخامخ دی. د د ولايتي شورا يو غړی «عصمت الله قرباني» رسنيو ته اعتراف وکړ چې طالبانو ددې ولايت په اشکمش، بهارک، نمک اب او خواجه غار ولسوالیو کې خپل تحرکات زيات کړي او اوس د مرکز تالقان تر پنځه کيلومتری رارسېدلي او که چېرې يې مخه ډب نشي- د کندوز د سقوط پېښه به په تخار کې هم تکرار شي.

د جولای مياشتې په اوږدو کې که هم د تخار ولايت په ټولو ولسوالیو کې جهادي بريدونه په پوره قوت روان و خو د پام وړ ځپونکي بريدونه د اشکمش په ولسوالۍ کې ترسره شول. د جولای مياشتې په پنځه ويشتمه د تخار ولايت اشکمش ولسوالۍ مرکز سره نيږې سيمه کې د مجاهدينو په عملياتو کې د دښمن ۲ قرارګاوې (بيسونه) او ۲ پوستې فتحه کړې.

د اسلامي امارت د ويانډ بنا غلي ذبيح الله مجاهد د خبرپانې له مخې په دې نښته کې د دښمن تر ۵۰ پورې پوليس او عسکر وژل شوي او يا ټپيان دي، چې د لسګونو تنو جسدونه په سيمه کې پاتې دي، يو تن پوليس ژوندی نيول شوي. دغه راز يو هاموې ټانک ويجارشوی، ۱ رينجر موټر، ۷ ميله پيکا ماشيندار، ۷ ميله راکټ لانچر، ۲۰ ميله کلاشينکوف، ۸ ميله نارنجک انداز، ۱ ميل درازنوف، ۱ پايه (SPG۹) توپ، ۱ پايه هاوان توپ، ۵۰۰ عدده د راکټ او خورا ډيرې نورې مرمۍ له نظامي توکو سره مجاهدينو ته په لاس ورغلي دي.

د اشمکش په عملياتو کې دشمن د خپلو ۳۶تنه عسکرو وژل کيدل تائيد کړل چې دا د الفتح عملياتو په لړ کې په تخار کې په دښمن تر ټولو ځپونکی ګوزار و چې پخوا يې دومره عسکر په يو ځای له منځه نه و تللي. په تخار ولايت کې جهادي بريدونو داسې مهال زور اخيستی چې ورځيرمه بدخشان کې هم د مجاهدينو فاتحانه عمليات روان دي او څو ورځې وړاندې يې د کران و منجان مهمه ولسوالۍ فتحه کړه. که څه هم دشمن په وروستيو کې سخت وحشتونه او بمبارونه پيل کړي دي خو دغه فتوحات ښيي چې د دښمن بريدونو په مجاهدينو کوم اغيز نه دی کړی او مجاهدين لا هم په لوړه روحيه او متانت سره خپلو پرمختګونو ته دوام ورکوي.

لیکوال: م. جمیل باور

د روان ۲۰۱۹م کال د اګست میاشتې پر۳مه نیټه د قطر هیواد په پلازمینه دوحه کې د اسلامي امارت د سیاسي استازو او د امریکایي مرکچیانو ترمنځ له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو اشغالګرو عسکرو د وتلو او افغان خاوره د نورو هیوادونو په خلاف د نه استعمال پر سر د مذاکراتو اتم پړاو خبري پیل شوې چې ممکن څورځې به دوام وکړي او په قوي احتمال سره له هیواده داشغالګرو عسکرو د وتلو په سره به دواړه لورې یوې پریکړې ته ورسیږي.

پخوا تردې هم د همدې خبرو اووه پړاوونه ترسره شوي وو چې د دواړو لوریو اسلامي امارت او امریکایانو لخوا پکې د پرمختګ خبر ورکړل شوی و؛ خو کومه معاهده نه وه پکې شوې.

اسلامي امارت چې د پیل له ورځې دیني او ملي ارزښتونو ته ژمن پاتې شوی، دالله تعالی په مدد به هیڅکله به په دې اساسي موضوعاتو کې یو ذره هم تنزل او انعطاف ونکړي:

۱: د هیڅ یو نظامي امریکایي او یا بل یرغلګرپر شتون به سترګې پټې نه کړي، څکه د ګران هیواد په پوره معنا ازادي د اسلامي امارت له سترو اهدافو څخه ده.

۲: د مزدور اوخودساخته رژیم پرځای یې دریښتیني اسلامي نظام حاکمیت له نه تیریدونکو اهدافو څخه دی څکه چې سلګونو زره افغانانو په دې هیله قرباني ورکړه چې هیواد ته یې اسلامي نظام راشي، له اسلامي نظام پرته په بل نظام معامله هیڅ مسلمان افغان ته د منلو نه ده.

۳:د کابل رژیم چې دامریکایانو له لورې په زور او جبر تحمیل شوی او دامریکایانو دیوې استخباراتي پروژې په توګه دنده لري ددې وړ او قابیل نده چې اسلامي امارت ورسره دیوه مستقل جهت په توګه خبرې او مذاکرات وکړي څکه دامریکایانو له وتلو او تیښتې ورسته خودبخوده په دغه جعلي نظام خپسکه ګډیږي ،شړیږي او له منځه ځي.

که څه هم امریکایانو دتیرو مذاکراتي پراوونو په دوران کې زیاته هڅه وکړه او ډول ډول فشارونه یې وغورځول چې دکابل رژیم دیوه مطرح جهت په توګه رامخې ته کړي او دخپلو پوځیانو له وتلو ورسته هم دغه منفور او حلقه بګوش رژیم ته مشروعیت ښه ورکړي ، ولې داسلامي امارت زړورو اوباخدا سیاسي مرکچیانو ورسره په هرمیدان کې کلک مقاومت وکړ یوه زره انعطاف یې هم ورته ونښود ؛ هماغه وو چې امریکایان یې دیته چمتو کړل چې داسلامي امارت دنورو غوښتنو په څیر دکابل رژیم له مطرح کیدو څخه هم هغوئ تیر او پرشا کړي

خو دکابل مزدوران یې لاهم په دې فکر کې دي چې ممکن بادار به یې داسې ژر پرې نږدي او په جنګ اوسولي دواړو کې به ورته ګټې راوړي ؛ خبر ندی چې نور دغه خیالونه او فکرونه تش دبوسو اندي دی

ځکه امریکایان له داسې جهت او قوت سره ندی مخ چې امریکایی دړکي او غورځي پرځي کوم اثر پري وکړي او یایې الله مکړه دوه مخې معاملي ته اړ باسي

اشرف غني او عبدالله چې بیا هم دارګ خوبونه او خیالونه وینې په ډیرسرعت او لیونتوب یې دولسمشری لپاره ټاکنیز کمپاینونه په کار اچولي اوخلکو ته کاذبي وعدي ورکوي

وړمه ورځ حکمتیار د خپل ټاکنیز کمپاین د پیل په غونډه کې وویل چې هیڅاته اطمینان نه ورکوي چې یادې ټاکنې به ترسره شي. که د اسلامي امارت او امریکایي استازو ترمنځ کومه پریکړه کیږي په قوي احتمال سره به ټاکنې وځنډیږي یابه لغوه شي اویا به یو مؤقته اداره رامنځ ته شي چې غني او ټیم به یې خاي پکې نه لري.

ځینو امریکایی ورځپاڼو خبرورکړی چې همداوس له افغانستان څخه دامریکایي پوځیانو دوتلو لړی پیل شوي او تمه ده چې دهمدي یوې اونۍ په ترڅ کې به ۳ زره تنه عسکر وویستلی شي. دسرچینو په خبره له اسلامي امارت سره دامریکایانو مذاکرات دټرمپ اداري لپاره مهم چانس او دختیو پوزه جوړولو ښه وخت ده ؛ فکر نکیږي چې امریکایان به داسلامي امارت یوې خبري او غوښتني ته هم منفي ځواب ووایي

له دې ټولو واقعیتونو سره سره اوس هم ع او غ غني لګیادي کمپاینونه کوي په سیاسي او تبلیغاتي میدان کې دخپلې بقا په امید هوا ګاني ګزوي اوورسره یې دعام ولس دقتل عام میدان تود کړی ترڅو وښیی چې دامریکایانو له ملاتړ پرته هم دوئ دخپل ولس نابودی او کړولو ته دوام ورکولای شي

ع او غ دې په یاد ولري چې ټول چانسونه یې تر انبارونو خارو شوي نه یې امریکایان منلو ته تیار دی او نه یې هم افغانان پریښودلو ته حوصله لري

امریکایان پوه دی چې موجوده رژیم دفساد، خیانت او سر تمبګی ځالي او جړې مصرف او حمایت ترینه حماقت دی دغه ډول افغانان په دې باور لري چې موجوده رژیم پایښت ځانته دقبر کیندلو او تباه کولو په معنا ده.

جنګ غوښتونکي جنرالان دي

له ټرمپ نه زده کړي...!!

ليکنه: موسی فرهاد

په داسې حال کې چې له طالبانو سره د سپيني مانۍ د مامورانو مذاکراتي پروسه اتم پړاو ته ننوزي او ټرمپ د خپلو پوځونو د ايستلو تاييا نيسي؛ په امريکا کې يو شمېر جنرالان چې د بليک واټر په ځير د قاتلانه اذهانو درلودونکي دي؛ بيا هم کله نا کله په افغانستان کې د پاتې کيدلو او د روان اشغال او بې ګټې جګړې په جاري ساتلو باندې اصرار کوي.

دغو جنګ غوښتونکو جنرالانو ته پکار ده چې د ټرمپ غوندې د لويديځو او نړيوالو کارپوهانو خبره په غور واوري او له ځان سره حساب وکړي، په پښتو کې يو متل دی چې وايی کم عقل چې ځومره بل خوږوي؛ تر هغه زيات ځان خوږوي .

وړاندې تر دې چې د کارپوهانو د هغو مشورو يادونه وکړو چې وخت په وخت يې امريکايي واکمنو ته ورکړې لومړی به د امريکايي جګړې د زيان په اړه يو څو تخميني شميرې را وسپړو چې هغوی په دې خپل ناروا يرغل کې څه ترلاسه کړي.؟

تخميني شميرې:

نژدې دوه لسيزې کيږي چې امريکايي چارواکي هم خپل خلک وژني او هم يې په دنيا کې اور بل کړی، لومړی يې د خپل استعماري سياست، ناوړه کړنو او ناکاره پاليسيو له کبله د څه باندې ٤٥٠٠ انسانانو ژوند د ناين ايليون په پېښه کې په داو ولګاوه، ورپسې-يې د هغوی د انتقام په نامه تراوسه پورې په سوونو زره نور امريکايان د مرګ کومې ته ور ټيل وهل.

د دوی خپلې شميرې وايی چې ٤٤٨٦ امريکايی عسکر په عراق کې وژل شوي، ٢٤٦٥ په افغانستان کې وژل شوي، په دواړو جګړو کې ١ ميليون عسکر زخميان شوي او نژدې ٦ ټريليونه ډالر مصارف شوي .

According to the U.S. Department of Defense : After ٤٬٤٨٦ U.S. soldiers died in Iraq and ٢, ٤٦٥ U.S. soldiers died in Afghanistan, ١ million U.S. soldiers wounded in both wars, and a potential cost of up to $٦ trillion,

د یو بل راپور له مخي چې په ۲۰۱۷م کال کې د (Archive of armed violence) وسلوال تاو تریخوالی آرشیف په نوم اداري خپور کړی او ویلي و چې په امریکا کې د څه کم ٦٠ زره وسلوالو پیښو په ترڅ کې څه باندې ۱۵ زره کسان وژل شوي او لږ تر لږه ۳۰ زره ٦٠٠ سوه نور ټپیان شوي.

نو چې دا کلنی شمېره په څه کم دوه لسیزو کې ضرب کړای شي تر سوونو زرو پوري د امریکایانو مرګ ژوبلې اوړي. مالي زیان یې د امریکا د ټیکس یا ګمرکي محصولاتو د اداري د ویب پاڼي AmericanTaxpayers.com د راپور له مخي، داسی ښودل شوی:

هغه امریکا چې یو وخت یې په پرلپسي-توګه په هره یوه ثانیه کې ۷۵۲ ډالره ګټل، ولي اوس یې د ګټې پرځای، زیان ته مخه کړي، د جګړې له کبله د هري ثانیې په تیریدو سره ۲۳۱ ډالره مالي زیان ورته رسیږي.

ځکه چې د یو شمېر احصائیو پر بنسټ د امریکا د جنګ د هري ورځې پوځي مصارف له ۲۵ نه تر ۲۸ میلیونه ډالرو پورې رسیږي. چې په دوو لسیزو کې دومره لوی مصارف خورا ملاماتوونکي ثابتیدای شي .

د الجزیرې تلویزوني چینل په ۲۰۱٦م کال کې یو راپور خپور کړ چې پربنسټ یې په یوه نیمه لسیزه کې د امریکایی جګړې له لاسه په افغانستان عراق او نورو سیمو کې ٦٠٠ شپږسوه زره پوځي او ملکي وګړي تلف شوي، تر۷ میلیونه زیات وګړي مهاجرت او بې کوری ته اړ شوي او په همدې موده کې امریکا ته تر ۱۳$ ټریلیونه ډالرو پورې مالي زیان رسیدلی دی . October ۱۲, ۲۰۱٦ AlJazeera

نو دې ټولو تخميني احصائیو ته په کتو، سړی دې نتیجې ته رسیدلای شي چې امریکایی واکمنو ډېره احمقانه پریکړه کړې وه چې پر اسلامي نړۍ خصوصاً پر افغانستان یې یو ناروا یرغل پیل کړ، داسی یو بې هدفه او ناکامه جګړه چې هیڅکله به یې د ګټلو خوب رښتیا نشي، پرته له دې چې ورځ تر بلې بې زیانه مرګ ژوبله وزغمي، ملا ماتوونکی مالي زیان یې وګالي او بالاخره نړیوال غرور او حیثیت یې له خاورو سره خاوري شي.

د دغسي نا اټکل شویو ځاني او مالي تلفاتو او شکست خوړده حالت ته په کتو امریکایي واکمنو خصوصاً ټرمپ ښایی د نړیوالو کارپوهانو هغه مشورې تر یوه حده منلې وي، چې هغوی به امریکایي واکمنو ته همیشه ویل چې که امریکایي چارواکي همدغې ناکامې پالیسۍ ته نورهم دوام ورکړي؛ نو لیري نه ده چې امریکا دې په افغانستان کې د شکست له املې په ټوله نړۍ کې له سیاسي او نظامي ماتې سره مخ شي او بالآخره به امریکا د خپلو نړیوالو دښمنانو د سیاسي، نظامي او اقتصادي فشار په وجه په کور دننه کې هم درې وړې شي.

د دوی په وینا د امریکا روانه کړنلاره له څو بنسټیزو وجوهاتو ناکامه بریښیدله:

۱- امریکا چې د کومو اهدافو لپاره پر افغانستان پوځي یرغل کړی وو؛ که څه هم د دوی ناقص اتکل دا وو چې جنګ به یې د څو ورځو او یا اکثراً د څو میاشتو لپاره وي؛ خو دا دی نژدې دوې لسیزې پوره کیږي چې د همغو اهدافو له جملې نه یو هم ترلاسه شوی نه دی، مګرجنګ لا جریان لري.

۲- امریکا دا ګڼلې وه چې پر افغانستان باندې د یرغل په وجه به په نړیواله کچه د امریکا رعب او هیبت نور هم زیات شي، سلطه به یې پراخه شي، د نړۍ ټولو برخو ته به یې د مداخلې لاس رسی ډېرآسانه شي، بالآخره چې د نړۍ واکمني به یې په برخه شي.

ولې برعکس امریکا د افغانستان د جګړې له امله په نړۍ کې هغه شته حیثیت او رعب هم له لاسه ورکړ. اوس مورِ او تاسو وینو چې نه یوازې ستر قدرتونه، بلکې کمزورې هیوادونه هم د امریکا په وړاندې جدي مواقف نیسي.

۳- امریکا او جګړه ایزو ائتلافیانو یې فکر کاوه چې د تروریزم په نوم جګړه یې یو ډېر ښه سرپوښ مونډلی، تر همدې پوښ لاندې به دوی هغه اسلامي هیوادونه، احزاب، شخصیتونه، مراکز او دیني ښونځایونه په نښه کوي چې د لویدیځ، خصوصاً د امریکا لپاره بالفعله او یا بالقوه خطر وي.

خو امریکا په افغانستان کې د ناروا جګړې له امله نه یوازې دا چې پورتنۍ کارونه یې ترسره نشوای کړای، بلکې دغه د دوی مزعومه خطرات اوس د امریکا او لویدیځ په زړه کې هم په داسې پراخه پیمانه را ټوکیدلي چې د دوی لپاره په واقعي جدي خطر بدل شوي دي.

٤- امریکایي واکمنو د جګړې تر پیل کیدا وړاندې داسې ګمان کړی و چې پر افغانستان او بیا ورپسې- پرعراق حملې به د امریکا اقتصاد ته نقصان ونه رسوي ځکه چې دوی ویل دا جګړه یې د ناټو د نظامي ائتلاف په ملاتړ پیل کړې، طبعي ده چې مالي بوج به یې هم هغوی ورسره اوچتوي

خو برعکس د یادو جګړو له امله د امریکا اقتصاد ته په ټریلیونونو ډالرو زیان ورسید، ولې ائتلافیانو یې تنها د خپلو څو زرو یا څو سوو عسکرو چې په افغانستان کې یې ځای، ځای میشت کړي وو؛ د اعاشې او اباتې تر حده مصارف وکړل، نور ټول مصارف د امریکا له غاړې شول. چې په دې توګه یې خورا درنه اقتصادي ضربه ولیدله.

۵- د پخواني شوروي فدراسیون په مشرۍ د وارسا د نظامي ټرون تر ړنګیدلو وروسته، دا لومړی ځل وو چې د امریکا په مشرۍ د ناټو پیمان یوې ناڅرګندې جګړې ته ورداخلیږي او د نورې نړۍ په وړاندې د خپل ځواک ښودنه کوي. نو د دوی په ګمان ډېره ممکنه وه چې د ناټو پوځي ټرون دي نورهم مضبوط شوی وای.

مګر اوس مورِ او تاسو ګورو چې د ناټو پخوانی برم د تبلیغاتو ترحده پاتې دی، حتی چې امریکایان خپله وړاندې بې باوره دي.

د دې پورتنیو دواړو خبرو د ثبوت لپاره د امریکا د اوسني مشر ډونالډټرمپ څرګندوني کافي دي چې وړم کال یې په یوه خبري غونډه کې وویل: ناټو یو بې ګټې او

پرسوده پروژه ده چې امریکا ته يې يوازي مالي بوج زيات کړی، پکار ده چې له دې وروسته د ناټو نور ائتلافيان هم په لګښتونو کې زياتوالی راولي، کنه نو امريکا بايد خپلې پيسې د خپل هيواد پر زيربناوو ولګوي.

کله چې امريکايان په دې کې پاتې راغلل چې د يرغل څخه مطلوب اهداف په لاس راوړي؛ نو لويديځوالو کارپوهانو په افغانستان کې د امريکا پاليسي- هرو مرو ناکامه وګڼله، او امريکا ته يې پر دې سپارښتنه تينګار ته دوام ورکړ چې ژرتر ژره دې امريکا خپله تګلاره بدله کړي او نور دې د افغانستان له ګوريلايي او نه ګټونکې جګړې نه خپلې پښې سپکې کړي.

افغانستان ته يې څه ورکړل؟

اوس راځو دې خبرې ته چې امريکا پخپل ټول تاريخ کې له دې دومره اوږدې او پرمصرفه جګړې سره سره افغانستان ته څه ورکړل او څه يې ځيني واخيستل ؟

امريکا د خپل يرغل په وسيله ترهرڅه وړاندې افغانستان له يو داسې مسلط نظام څخه بې برخې کړ چې هغه مهال د افغانستان ورته اشد ترين ضرورت وو. چې هغه د طالبانو په لاس رامنځ ته شوی اسلامي حکومت و.

تر طالبانو وړاندې چې افغانستان له کومې انارشۍ او ناورين سره مخ وو؛ قريباً هرڅوک وربانده خبر دي. طالبان راپاڅيدل، ګډوډي يې ختمه کړه، امن او ثبات يې قايم کړ، هيواد يې له تجزيې وژغوره ، مخدرات يې ختم کړل، وسلې يې ټولې کړې، رشوت، غلا او فساد يې له منځه يووړل. چې دا د يو ولس بنيادي اړتياوې دي.

خو په بدل کې يې امريکا داسې يو نظام وربانده مسلط کړ چې که څه هم په ظاهره خو د ټوپکې دور په پرتله په ساټ او باټ کې برابر بريښي، ډيموکراټ سيټپ ګنډل کيږي، انتخابات دی، پوځ او پوليس دی، ميډيا ده، سفارتونه، وزارتونه او کنفرانسونه دي.

مګر دا هرڅه د تلويزون د سکرين ترپردې پورې محدود دي، ولې د انارشيزم لومړی نښه يې دا ده چې پر يوه کابل دوه حکومتونه واکمني کوي.

امريکايي او نور غربي خارونکي پخپله اعترافات کوي چې د کابل حکومت په فساد کې نړيوال ريکارډ مات کړ، او په افغانستان کې مخدرات ترپخوا ۹۰٪ سلنه زيات شوي، د امن او ثبات خو تصور کول د خلکو لپاره ګران شوي دي.

دا هغه نظام دی چې امريکايانو افغانستان ته ورکړ او په بدل کې يې هم له يو صالح نظام څخه بې برخې کړل او هم يې په سلګونو زره بې ګناه مسلمان افغانان په شهادت ورسول.

امريکايي جنرالانو وړاندې لا بايد په دې ځان پوه کړی وای چې افغانان رښتيا هم ډېر خوريدلي، ستړي شوي دي، کورونه او زندګۍ يې تباه شوي، خواری او ورانۍ يې ګاللي، له جنګه ستړي شوي، مګر د خپل هيواد د آزادۍ په لاره کې له جهاد او مبارزې څخه هيڅکله نه ستړی شوي او نه به ستړي شي.

دا څکه چې داسې مبارزه د مسلمانانو د ايمان يو جزء دی چې هيڅکله ورته شاه کولای نشي. همدا لامل دی چې مسلمان د جهاد په دې مقدسه عقيدوي لاره کې مرګ او ژوند دواړه د ځان بريا ګڼي او له دې عقيدوي نعمت څخه مقابل دښمن او د هغوی همالاري په هر صورت محروم دي.

د ماشومانو د ملاتړ سازمان

او نا انصافه چلند يې

قاري حبيب

(Save the Children) چې د ماشومانو د ملاتړ کوونکي سازمان په نوم شهرت لري، يوه نړيواله مرستندويه غير حکومتي مؤسسه ده چې په نړيواله کچه د ماشومانو د وضعيت د ښه والي لپاره فعاليت کوي. دغه سازمان هم د ملګرو ملتونو د يونيسف اداري په شان ځان د ماشومانو د حقوقو د محافظت تيکه دار بولي او وخت نا وخت د ماشومانو د حقوقو په اړه اعلاميې صادروي.

ماشومان د الله تعالى معصوم او غير مکلف مخلوق دی. د ماشومانو اړوند په دې خبره ټول اتفاق لري چې هر ماشوم د عاطفې او شفقت وړ دی، هغه که د هر ځای، د هر نسل، د هر رنګ او هرې ټولنې سره تړاو لري. او دا څکه چې ماشومان خلقتا ټول يو ډول وي، يو ډول فکر کوي او يو ډول جسمي او رواني جوړښت لري، د شاعر په خبره:

ماشومان که د مشرق که د مغرب دي
د ژړا او د خندا انداز يې يو دی

خو د تحير او تعجب خبره دا ده چې نور عقده من او متعصب سياسيون خو پريږده، اوس هغه څوک چې د ماشومانو د حفاظت او ملاتړ دعوه لري او په دې برخه کې د ناپيلي چلند شعار پورته کوي، هغوی هم د ماشومانو په خلاف تبعيض ته مخه کړې او د

معصومو ماشومانو د حقوقو تر شعار لاندې خپلې سیاسي او تبلیغاتي ګټې لټوي.

دا ډیره موده کیږي چې په افغانستان کې د امریکایي او داخلي عسکرو لخوا په کلیوالو سیمو د چاپو، بمبارونو، او پوځي حملو په شمول سخت بریدونه پیل شوي دي. په دې بریدونو کې روزانه لسګونه افغانان ژوند له لاسه ورکوي. د دې عامو خلکو یوه لویه برخه ماشومان دي، چې یا خو په خپلو کورونو کې د خپل خوب په بستر کې بمبارۍ او وژل کیږي او یا هم د چاپو په مهال په مرمیو ویشتل کیږي. که د افغانستان اړوند اجتماعي رسنۍ تعقیب کړئ هره ورځ د شهیدو ماشومانو عکسونه پکې لر بر کیږي.

خو دا چې دغه ماشومان د اشغالګرو امریکایانو او د هغوی د ګوډاګیانو په وسلو وژل کیږي او قاتلان یې د تمدن دعوه دار غربیان دي نو څکه د بشري حقوقو ځارونکو او د ماشومانو دملاتړ سازمانونو هم وربانديې سترګې ړندې او غوږونه کانه اچولي، حتی تر اوسه یې په یوه کاغذي اعلامیه سره هم دا قتلونه او وحشتونه نه دي غندلي.

څه موده وړاندې د اسلامي امارت د مجاهدینو لخوا په پلازمینه کابل کې د دفاع وزارت د لوژیستیک او انجنیرنګ په ریاست باندې فدایي برید ترسره شوه. که څه هم دا برید خورا دقیق پلان شوی و، ټول احتیاطي تدابیر یې سنجول شوي وو تر څو عامو وګرو ته زیان وانه وړي. برید دومره دقیق او مؤثر و چې د بي بي سي د خبریال بلال سروري د اعتراف له مخې د ۲۶ نفره پوځیانو په شمول څلویښت تنه د دفاع وزارت مهم کارکوونکي په کې ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول.

اما دا چې د چاودنې له امله په لړې فاصله کې د یوه ښوونځي ښیښې ماتې شوې، او د ښیښو له امله ځینو د مکتب ماشومان سرسري خوږ شول. نو رسنیو د برید د اصلي ځای او تلفاتو په ځای ټوله توجه په همدې ښوونځي را ټوله کړه. رسنیو د دې په ځای چې د دفاع وزارت د نسکور ریاست عکسونه خپاره کړي اود وژل شویو پوځیانو شمیره اعلان کړي. یوازې یې د ښوونځي د ماتو ښیښو او وربانديې د خوږ شویو څو تنو ماشومانو انځورونو ته زور ورکړ او د برید ټول تلفات یې همدا د ښوونځي ماشومان اعلان کړل.

د رسنیو د دې یو طرفه چلند نه علاوه په دې وړځ د ماشومانو د ساتنې نړیوال سازمان (Save the Children) هم له اوږده خوبه را ویښ شو او د یوې اعلامیې په صادرولو سره یې نه یوازې د کابل برید

محکوم کړ، بلکې له طالبانو یې وغوښتل چې ښوونځیو ته نړۍ باید بریدونه ونکړي.

عجیب قضاوت دی، کله چې په اطرافي سیمو کې اشغالګر او ګوډاګیان یې په ښوونځیو مخامخ بریدونه کوي، په مدرسو چاپې وهي او د دارالحفاظونو کوچني حافظان په ډلیز شکل په شهادت رسوي. مساجد او درسګاوې په بمونو الوځوي او له خاورو سره یې برابروي. دا وخت د (Save the Children) سازمان په مرګاني خوب ویده وي او حد اقل یوه خبره یې هم له خولې نه وځي. مګر کله که د طالب په برید کې په غیر عمدي توګه یوازې د کوم ښوونځي ښیښې ماتې شوې بیا نو درګرده تقبیحي اعلامیې صادروي.

د ماشومانو د ملاتړ د سازمان دغه چلند داسې ښیي لکه دوی چې په زبان حال سره وایي چې په ښوونځیو او مدرسو مخامخ برید او نړول یې هیڅ پروا نلري اما ورسره نړۍ باید داسې برید ونه شي چې یوازې هنداري یې ماتې کړي. د دوی موقف دا دی چې د ښوونځیو او مدرسو د ماشومانو په وژلو باک نه کوي اما که په ښیښو سرسري تېیان شول نو بیا یې د غندنې وړ بولي.

د کابل له برید وړاندې د وردګو په چک ولسوالۍ کې اشغالګرو د یوه دار الحفاظ ګڼ شمیر کوچني معصوم حافظان په مرمیو وویشتل او په ډلیز ډول یې شهیدان کړل. د هغو ماشومانو انځورونه تر دې حده مظلومانه او بوږنوونکي وو چې انسان یې د کتلو تاب نه درلود. خو د (Save the Children) په شمول د بشر د حقوقو د هیڅ سازمان زړه یې ونه درداوه او نه یې په دې اړه کوم ادنی غبرګون وښود.

دا دوه مخیز چلند ښیي چې ټن سبا په غربي نړۍ اخلاقي زوال اوج ته رسیدلی، حتی هغوی چې د بشرپالنې شعار بدرګه کوي په حقیقت کې د بشریت په وړاندې ستر جفاکاران او خائنین دي چې له خپلو سیاسي او تبلیغاتي ګټو علاوه ورته بشریت هیڅ ارزښت نه لري.

شورای نام نهاد صلح؛ از آغاز تا انجام

حبیبی سمنگانی

شورای عالی صلح به تاریخ ۱۳ سنبله ۱۳۸۹ خورشیدی از سوی حامد کرزی، رئیس آن وقت اداره کابل ظاهراً به هدف آماده سازی طالبان برای صلح با اداره دست نشانده کابل ایجاد شد و ریاست آن به دوش برهان الدین ربانی، رهبر حزب جمعیت سپرده شد. ربانی در سنبله ۱۳۹۰ در کابل کشته شد و پسر او صلاح الدین ربانی سرپرست این شورا تعیین شد. بر علاوه از ربانی پدر و پسر، سید احمد گیلانی و کریم خلیلی نیز مدتی ریاست این شورا را به عهده داشتند. در مجموع بیشتر رؤسا و اعضای این شورا کسانی بوده اند که عاملان اصلی خانه جنگی های دهه نود میلادی و قاتلان ده ها هزار افغان های بی گناه در جنگ های خانمان سوز قدرت خواهی بودند.

صدیق صدیقی، سخنگوی ارگ به تاریخ ۵ اسد ۱۳۹۸ خورشیدی نخست از لغو کامل و سپس تنها از منحل شدن دارالانشاء شورای صلح خبر داد. اما واقعیت اینست که این شورا با همه تلاش های که با پشتیبانی بی دریغ مالی امریکا و بریتانیا در راستای متقاعد ساختن طالبان از مبارزه در برابر اشغال کشور به خرج داد، بالاخره بدون کدام دستآورد عمده و اساسی، عملا ملغا شده است.

هدف از ایجاد شورای عالی صلح اصلا زمینه سازی برای صلح واقعی در کشور نبود، بلکه ازین شورا به حیث ابزار در برابر مبارزه آزادی خواهی امارت اسلامی استفاده می شد، این شورا که بودجه هنگفت مالی را در اختیار داشت تشکیلات خود را به زودی به تمام ولایات کشور گسترش داد و اعضای مرکزی و ولایتی شورا وظیفه داشتند که مسئولین و مجاهدین امارت اسلامی را با وعده های چرب مالی و مادی تشویق بکنند، تا از موقف خود منحرف شوند و از مبارزه در برابر اشغالگران و رژیم مزدور دست بگیرند، و یا به تعبیر دیگر ؛ تضعیف مبارزه امارت اسلامی در برابر اشغالگران و رژیم دست نشانده شان از اهداف عمده این شورا بود. چنانکه در سطور پایانی نخستین پیام این شورا که به تاریخ ۲۸ میزان ۱۳۸۹ خورشیدی منتشر شد آمده است که : «شورای عالی صلح از مخالفین مسلح افغانستان و رهبری آنها مصرانه می خواهد تا از خشونت دست کشیده و با پروسه صلح

بپیوندند» ، همچنان محمد اسماعیل قاسم یار، مشاور مسائل جهانی این شورا، به عنوان دستآورد عمده این شورا می گوید که : «اگر ۱۲ هزار تفنگ دار به پروسه صلح نمی پیوستند، شما فکر کنید که اگر هر کدام یک نفر می کشتند حالا ۱۲ هزار نفر زنده نمی بودند، این یک دستآورد است».

این شورا با کمک های مالی یوناما (نمایندگی ملل متحد در افغانستان) ، USAID (اداره انکشافی ایالات متحده امریکا) ، دولت بریتانیا و دیگر کشورها و سازمان های مختلف، بودجه چندین ملیون دالری را در اختیار داشت. شورای عالی صلح به شمول ۸ زن ۶۸ عضو داشت. طلوع نیوز در یک راپور خود در سال ۱۳۹۶ گفته بود که تنها ۱۶ عضو بلندرتبه شورای عالی صلح به صورت مجموع هر ماه بیش از ۶۶ هزار دالر حقوق می گیرند که بیشترین آن ۱۸ هزار دالر و کمترین آن بیش از ۱۷ صد دالر است. نیز ۹۲ کارمند دارالانشای شورای عالی صلح ماهانه ۹۲ هزار و ۸۳۰ دالر حقوق می گیرند که بیشترین آن ۷ هزار دالر و پایین ترین آن ۲ صد دالر است. همچنان حقوق ماهانه ۱۶۵ کارمندان این شورا در سائر ولایات کشور به ۳۴۶ هزار دالر می رسد که بیشترین آن ۱۴۵۰ دالر و پایین ترین آن ۲۲۰ دالر است.

شهزاده شاهد، سخنگوی پیشین این شورا در یک برنامه تلویزیونی اعتراف کرد که : «شورای عالی صلح به یک کانال تلویزیون سه و نیم میلیون دالر می داد تا خبرهای مربوط به شورای عالی صلح را نشر بکند». نیز او با خطاب به سران رژیم گفته بود که : «رییس جمهور غنی و داکتر صاحب عبدالله هم بشنوند، یک کسی- در شورای عالی صلح کار می کرد و حالا در وزارت دفاع کار می کند، او ماهانه ۹۰۰۰ یورو از یک سفارت معاش می گرفت» .

وحید مژده، کارشناس مسایل سیاسی در گفتگو با یکی از خبرگزاری ها در ثور ۱۳۹۲ انکشاف کرده بود که : «در شهر کابل کسانی هستند که عضو شورای عالی صلح نبوده، ولی از این شورا معاش دریافت می نمایند و شرط این افراد در قبال کارشان این است که نامی از انها برده نشود، قضیه این است که شورای عالی صلح فقط پرده ای هست برای کارهای دیگری که این شورا انجام می دهد».

بدون تردد، حقوق دالری و امتیازات فوق العاده این شورا چیزی بود که توجه وکلای پارلمان، تفنگسالاران، مدعیان حقوق بشر، و حتی رهبران تنظیم ها را به سوی خود جلب کرد. بعضی رهبران و چهره های شناخته شده سیاسی برای احراز پست ریاست شورای عالی و حتی محض عضویت آن، رسما کمپاین کردند. یکبار سناتور جمعه دین گیانوال گفته بود : «برخی اعضای شورای عالی صلح در جاهای دیگر هم وظیفه دارند و به خاطر معاش در این شورا مانده اند، نمی دانم با این وضعیت چگونه برای تامین صلح در کشور تلاش می کنند».

این هم واقعیت مبرهن است که اشرف غنی در دوره پنج ساله رژیم خود از شورای نام نهاد صلح همواره به گونه رشوۀ سیاسی/مالی استفاده کرد. محمد عمر داودزی که یکزمان رقیب انتخاباتی و از منتقدان سرسخت اشرف غنی بود به حیث رییس دارالانشاء این شورا گماشته شد و سپس نماینده ویژه رییس جمهور در امور اجتماع منطقوی برای صلح نیز تعیین شد، او سیاست چیز و ناچیز خود را قربان این سمت کرد و حالا به حیث مسئول کمپاین دسته انتخاباتی اشرف غنی کار می کند. همچنان پیر سید گیلانی و کریم خلیلی که در انتخابات گذشته از حامیان غنی بودند، هر یک به نوبه خود به حیث

رییس شورای عالی صلح تعیین شدند و گویا در دولت سهامی ع و غ بی بهره نماندند.

اگر از یکسو از شورای نام نهاد صلح که در چهارچوب رژیم کابل ایجاد شده بود از روز اول امیدی در راستای آوردن صلح برده نمی شد، زیرا بیشتر چهره های شناخته شده که مجرمین خانه جنگی های دهه نود میلادی بودند، سپس با طالبان تا اخیر جنگیدند و بالاخره به غلامی امریکا و ناتو تن دادند و به عنوان همکاران اجرتی آن ها، زمینه اشغال کشور رابا کمال وقاحت و رسوایی برای شان مساعد ساختند، درین شورا جا یافته بودند و اصلا امکان نداشت که امارت اسلامی برای سرنوشت خود و کشور با چنین مردم خود فروخته، وارد گفت و شنید شوند و یا معامله پی بکنند.

از سوی دیگر این شورا نیز بنا بر هدفی که از طرف پشتیبانان مالی شان داده شده بود، برای این سرگردان نبود که چطور به حل واقعی معضل کشور برسد، بلکه شب و روز برای این دست و پا می زد که چطور بتواند یک فرمانده پایین رتبه و یا دو سه نفر عادی مجاهدین را به دام بیاورد و خبر آن را با شد و مد رسانه یی بکند که امروز فلان ابن فلان به پروسه صلح پیوست و گویا دست از جهاد و مقاومت در برابر اشغالگران و مزدوران شان گرفت. اما خوشبختانه، این شورا هیچ نمونه ای را هم به عنوان دستآورد پیش نمی تواند که کدام مسئول مهم امارت اسلامی را به دام خود آورده باشد، چه جایی که به معامله پی با تمام امارت اسلامی برسد.

افغان ها شاهد صدها قضایایی هستند که اعضای ولایتی شورای نام نهاد صلح تنها برای بقای خود در شورا، دزدان، قاتلان و جنایتکاران مفرور را از کوه ها و جنگل ها پایین آورده، به آن ها دستار و چپن داده، به عنوان افراد طالبان در برابر رسانه ها قرار داده اند که گویا این ها با دست گرفتن از جنگ و جدل در برابر رژیم، به پروسه صلح پیوسته اند. مدعیان دروغین صلح با این کار شان مردم های جنایت پیشه را جرات بیشتر بخشیدند و در حقیقت مرتکب جرم نابخشودنی در برابر ملت مظلوم خود شدند. این کار نشان می داد که ایشان در مورد صلح چقدر سطحی می اندیشند و در حقیقت از صلح نیز بازیچه ساخته اند.

درین اواخر، شورای نام نهاد صلح به توطئه دیگری رو کرده بود. مقامات این شورا نشستی را با استفاده از نام و نشان علما، اما با حضور چند صد تن درباری های خود فروخته، به تاریخ ۱۴ جوزا ۱۳۹۷ خورشیدی در تالار لویه جرگه کابل دائر کردند و فتوای را پیش از پیش از سوی باداران شان تهیه شده بود، درین نشست به عنوان «فتوای صلح» در برابر جهاد کنونی کشور صادر کردند، نیز به بعضی کشور های اسلامی رفتند و با زمینه سازی پنهانی امریکا نشست های را در مکه، جده و اندونیزیا به بهانه صلح دائر کردند و کوشیدند مبارزه طالبان را نامشروع خوانده خواهان توقف یکطرفه آن شوند. اما ایشان در حقیقت از چهره واقعی خود پرده برداشتند و نشان دادند که هرگز ثالث و بی طرف نیستند، بلکه برنامه های استعماری اشغالگران را با استفاده از تحریف نصوص قرآنی و نبوی، به پیش می برند.

اما لله الحمد، تمام تلاش های شوم این شورا بی نتیجه ماند و اینک مقاومت تاریخی افغان ها به سرکردگی امارت اسلامی در برابر اشغال کشور و برای حاکمیت نظام مستقل اسلامی در کشور به دروازه های پیروزی رسیده است. پاینده و تابنده باد مجاهدین راه حق.

اندونیزیا ته
داسلامي امارت دپلاوي سفر...
دسیاسي باوریو بل مظهر...

بشیر ارمان

په وروستیو کې داسلامي امارت یو۸کسیز لوړ رتبه پلاوي داسلامي امارت دمرستیال او دقطر دسیاسي دفتر درئس ملا عبد الغني برادر په مشرۍ داندونیزیا هیواد په بلنه، اندونیزیا ته سفروکړ

دسفرموخه ددواړوهیوادونو ترمنځ په ښواړیکو جوړولو سربیره دراتلونکي افغانستان لپاره دګډو همکاریو په اړه دیوبل سره غږیدل و.

اندونیزیا داسلامي نړۍ یومهم هیوادی، چې دهندي سمندرپه جنوب ختیځ اوداسترلیا په شمال لویدیځ کې دنړۍ ترټولو زیاتوجزیرو [مجمع الجزائر] لرونکی هیواد دی، چې په شاوخوا دیارلس زره وړو اولویوجزیرومشتمل دی، اوس مهال دنړۍ ترټولو لوی اسلامي هیواد هم دی، پخوانی نوم یې [نوسانشلر] یعنې منځنۍ جزیره و، په لومړۍ اودویمه هجري پیړۍ کې دهندوانو اوبودایانو سوداګر میشت وو، چې هریو په مختلفو جزیروکې جلا، جلا حکومتونه جوړکړي وو، داسلام دظهوروروسته تقریباً دځلورومي هجري پیړۍ نه وړاندې [سماټراجزیرې ته اوبیاجاوا جزیرې ته] اسلام ورسید، دهندوستان په ځیرپه دې لري پرتو جزایروکې داسلام تبلیغ کوونکي اورسوونکي هم ځیني صوفیاءِ کرام و، هغوی پخپل خاموش دعوت سره داټوله سیمه داسلام په رڼا روښانه کړه، تردې پورې چې مسلمانانوهلته خپل حکومت جوړکړ، په هغو صوفیاوو کې شیخ عبد الله عارف رح،حضرت مولانا ابراهیم،حضرت روان رحمت،مخدوم ابراهیم،، شیخ فتح الله اودنورو نومونه دیادول وړدي

شپاړسمه عیسوي پیړۍ کې ولندیزي سوداګردې سیمې ته ورسیدل،هغوی کرار، کرار پخپلو چلبازیو سره دا سیمه داستعمار نښه وګرځوله، تردې پورې چې داټول جزایریې یو، یو

دخپلې سلطې لاندې راوستل، ولندیزي اقتدارپه زمانه کې دغو جزیروته دشرق الهندیا ولندیزي شرق الهند وویل شول، په ۱۸۴۴زکې دنسلیاتو یوجرمن کارپوه ورته[اندونیشیا]نوم کیښود،ددې اصل دیوناني ژبې یومرکب لفظ دی چې معنی یې [سمندر او جزایر دي] نو هغه و چې دازادی غوښتونکو لخوا هم په یوپریکړه لیک سره په ۱۹۲۱زکې د[ولندیزي شرق الهند] په ځای [اندونیشیا] نوم ورته غوره کړی شو، اودازادی ترلاسه کولو وروسته یې رسماً هم دانوم غوره کړی شو.

دانډونیزیا پلازمینې ته [جکارتا] وایي. او په مشهورو جزایرو کې یې جاوا، سماټرا ، مادورا، بنکا، بورنیو،سلادیسي، مالوکا اوسوندا راځي، [جکارته] دجاوا جزیرې په مغربي کناره پرته ده، داچې دغه جزیرې د [استوا خط] ته نژدې دي، په دې وجه بارانونه اوګرمې پکې دواړه وې، اوعجیبه داده چې دژمی له موسم سره داسیمه اشنا نده، دګرمی او وړښتونوپرته علاوه بل موسم نلري او ددې باوجود دپنکو استعمال پکې ډیر کم دی.

اندونیزیا یوښه زرخیزا وزرغون هیواد هم دی، په تیلو سربیره، ربړ،چای،کافي او نور ګڼ شمیر اجناس و انواع پریمانه لري، خلک یې عموماً نرم خویه،خوش اخلاقه او دبردباری متحمل مزاج لري.

دانډونزیزیا نیږدې ۸۵ سلنه خلک مسلمانان دي، او په پاتې لس سلنه یې هندوان،بودایان اوعیسویاندي، خو کله چې دولندیزي استعمار پخلاف اندونیزیاکې تحریک شروع شو، په هغه کې ټولو قومونو ونډه واخیسته او هغه مهال ددې لپاره چې مسلمانان اوغیر مسلمانان په یوستیج باندې درادی لپاره راټول شي پنځه اصول طی کړل شول، کوم چې هلته د[پنچا شیلا] په نوم مشهوردي، دهغوی اساسي نکته دیوبل دیني ازدې زغمل وه؛ خو د ازادی ترلاسه کولو وروسته نامسلمانو د[پنچاشیلا] اصول دسیکولر حکومت جوړولو لپاره استعمال کړل، په دې سره داسلامي حکومت دداعیانو او دسیکولرزم دعلمبردارانو ترمنځ ټکر راغی.

نهضة العلماء، مسجومي ګوند، او الجماعة المحدیه په اندونیزیاکې مشهور اسلامي ګوندونه دي، کوم چې داسلامي نظام دنفاذ لپاره مبارزه کوي، دمسجومي ګوند لخوا ډاکټرناصر دځه مودې لپاره صدراعظم هم پاته شو خو د [سویکارنو] دحکومت په وخت کې چې کله کمونست ګوند لخوا دحکومت تختې دارولو کوښښ وشو،دجنرال [سوهارتو] لخوا دکمونستانو ځپلو لپاره سخت ګامونه پورته شول، دهغه وروسته جنرال [سوهارتو] پخپله دحکومت واګې لاس کې واخیستې.

هغه مهال د کمونستانو دمقابلې لپاره یې داسلامي ګوندونو ملاتړ هم ترلاسه کړ، اودهغوی په مرسته یې دکمونزم ریښې وویستې، خو وروسته یې په هیوادکې خالص سیکولر حکومت رامنځته کړ، له

هغه مهال راهيسي داسلامي ګوندونو اوحکومت ترمنځ شديد اختلاف رامنځته شو.

دانډونيزيا پارلمان د۹سوه نه زياتې څوکۍ لري، چې پکې يواځې څه باندې ۳سو څوکيو لپاره غړي دانتخاباتو دلارې غوره کېږي، اودپاتي نورونيږدې ٦سوه څوکيو لپاره انتصابي غړي غوره کېږي، که هرګوندپه انتخاباتو کې سل سلنه برى هم ترلاسه کړي بيا هم په پارلمان کې هغه اکثريت نشي ترلاسه کولى، څو کاله دمخه مسجومي ګوند،نهضة العلماء اومحمديه جماعت په انتخاباتوکې دګډون لپاره يو متحد محاذجوړکړى و نو ايله يې ۸۳څوکۍ وګټلې، چې په دې وجه ديني سياسي جدوجهد پکې ډيرکمزورى دى، اوپه ظاهره يې په وړاندې ټولې لارې بندې ښکاري، له دې وجې ديني ګوندونه په کليو اوښارونوکې تبليغ او تعليم ته زياته توجه ورکوي، پوهنتونونه او مدرسې يې جوړې کړې له دې لارو نه دخلکو دننه داسلام دبقا لپاره کوښښونه کوي.

رازو ديته لکه وړاندې مو وويل چې انډونيزيا داسلامي نړۍ يومهم هيواد دى، دحکومت په رسمي بلنه يې داسلامي امارت د۸کسيزپلاوى سفر له سياسي او ديبلوماتيک پلوه داسلامي امارت دسياسي اواسلامي موقف د برې په معنى دى، که څه هم پلازمينه کابل داسلامي امارت ترولکې لاندې نده، په اسلامي اوغيراسلامي هيوادوکې سفيران اوډيپلوماټان نلرى خو بيا هم دنړۍ خپلواک هيوادونه يې دترټولومهم افغاني جهت په حيث منې. ورته بلنې ورکوي، ورته پخپلو هيوادوکې هرکلى وايي، دا دامعنى لري چې نورنړيوال په واقعيتونوپوى شوي چې څوک دافغانستان دخاورې رښتينى خاوندان اوساتونکى دي؟ اوڅوک دپردیو غلام اونوکران دي؟

انډونيزياته په رسيدو داسلامي امارت پلاوي ته دانډونيزيادولسمشر دمرستيال(يوسف کالا] او دبهرنيوچارو دوزيرې رينتوليستاري] لخوا هرکلي وويل شو، دولسمشر دمرستيال او بهرنيوچارو دوزيرې په ګډون لوړرتبه انډونيزيايي چارواکو تفصيلي ليده کاته وکړل داسلامي امارت د سياسي دريځ په اړه يې معلومات ترلاسه کړل، اوبيا دولسمشر دمرستيال لخوا داسلامي امارت دپلاوي په درناوي کې ميلمستيا ورکړل شوه

داسلامي امارت په پلاوي کې په ملاعبد الغني اخند سربيره مولوي اميرخان متقي، ملا خير الله خيرخواه، ملاعبد الحق وثيق، ملانورالله نوري مولوي عبد السلام حنيفي، سهيل شاهين او مولوي عبد العلي ګډون لاره، کومو چې دانډونيزيايې چارواکو سره په ليدلو علاوه دانډونيزيا داسلامي ګوندونو له مشرانو اورهبرانو سره هم تفصيلي مجلسونه اوليده کاته وکړل په هغو ديني ګوندونوکې مشرانويې داسلامي امارت پلاوي وليدل دهغه هيواد دعلماوو دلويې ډلې (نهضة العلماء)او دعلماوو د٦٠ډلو اتحاديه (مجلس العلماء) هم راځي چې داسلامي امارت له استازوته انډونيزياته هرکلى ووايه او په مختلفوبرخوکې يې ورسره تفصيلي مجلسونه وکړل،

او دافغانستان کې دروانو زمکنیو واقعیتونو اوحقایقوپه اړه یې دامارت دپلاوي نه مؤثق معلومات ترلاسه کړل، داسلامي امارت دپلاوی دغړو په وینا: دانډونیزیایې مسلمانانو لخوا له هم دامارت پلاوي ته زیاته مینه ورکړل شوه، او دوی درک کړه چې دانډونیزیا خلک په اسلام اودین زیات مین دي، دهرلمانځه په وخت کې به مسجدونه دلمونځ کوونکوڅخه ډک وو، داسې ښکاریده چې هلته علماوو یې په خلکو کې ډیرکار کړی دی، که څه هم پرلپسې سیکولرحکومتونه په واک کې پاته شوي خو علماوویې همت دلاسه ندی ورکړی اوهغوی ددین په لور دخلکو دمایل ګرځولو لپاره یې مختلف کاري پلانونه روان کړي وو او هم هغو هڅو په مټ اوس خبره دي مرحلې ته رسیدلې چې په راتلونکي کې به دمجلس العلماء مشردخپل هیواد انډونیزیا دولسمشر مرستیال شي.

نوپه ټوله کې دانډونیزیا اویانورو هیوادونو په بلنه داسلامي امارت دچارواکو سفرونه ددې ښکارندوی دی چې دنړۍ هیوادونه اوس دې نتیجې ته رسیدلې چې دافغانانو دازادۍ شعاربرحق او دخارجي اشغالګرو قواوو وتل دافغاني معضلې یواځینې حل دی، اوبل اسلامي امارت هغه یواځینې ځواک یا لوری دی چې دافغانستان راتلونکی ورپورې تړلی دی اوهرچې اوسنی حکومت دی هغه ناکام اوبدنام حکومت دی اوپه فساد کې ترغوږونوپورې ډوب دی په دې وجه هغه هیلې چې دنړۍ هیوادو ورپورې تړلې وې اوس هغه ټولې نیمه خوا او په ناهیلیو بدلې شوې له دې وجې اړتیاده چې دنړۍ نورهیوادونه هم ورته واقعیتونه باید در کړي او افغانستان کې دامریکائي اشغال دپای ته رسولو لپاره د واقعبینانه همکاریو اومرستو لپاره دافغان ولس لاس نیوی وکړي خبره دلته په همدې ټکو رانغاړم چې دغه سفر په اسلامي امارت دنړۍ دهیوادونو لخوا دباور اواعتماد ښودوښه مظهردی اوپه راتلونکي کې به مثبتې پایلې ولري، ولې ښکاره ده چې طالبان یو داسې جهادي اوسیاسي ځواک دی چې نړیوالو اړیکو، راشه درشه او دارپکوپراختیا ته اهمیت په نظرګوري اوغواړي چې دنړۍ دټولو هیوادونو او ولسونو سره ښه او حسنه روابط ولري همدا راز په انډونیزیا کې دامارت پلاوي ته دهغه هیواد داسلامي ګوندونو دمشرانو او رهبرانو سره دلیدلو کتلو فرصت برابریدل هم خورا ازرښتمن ګام دی، زکه امارت دیو دیني سیاسي او جهادي جریان په حیث وکړای شول چې هغوی په یوشمیر مغلقو افغاني ستونزو وپوهوي بل دنړۍ دنورو هیوادو داسلامي احزابو او ګوندونو سره اړیکي ددې لپاره هم ګټورثابتیدای شي چې څو ددیوبل دتجربونه دګټې اخیستلو ماحول رامنځته کړی شي نوپه مجموع کې داسفریو مثبت پیشرفت دی ،دنړۍ نورو هیوادوته هم دامارت داستازوسفرونه اړین دي خدای دي وکړي چې په وړاندې یې شته موانع ژرلري شي څو دمسلمانانو د ستونزوه پیژندلو کې او ورته دحل لارو چارو په لټولو کې دیوبل سره مرسته وکړی شي.

اشرف غني که امريکايي ببرک کارمل

احمد مختار

د افغانستان د پخواني شوروي پلوه ولسمشر ببرک کارمل په اړه ويل کيږي چې تر حد زيات يې له شورويانو سره جوړه وه ، تر دې چې په خپل يوه زوي يې روسي نوم ايښی و.

د روس پلوي ببرک کارمل له واکمني څخه پوره ۴۰ کاله وروسته د کابل واکمني يوه بل داسې ګوډاګي ته سپارل شوې چې په غلامي او پردي پالنه کې تر کارمل څوګامه وړاندې دی.

دا پردی پال ګوډاګی د کابل رژيم اوسنی نيمه مشر اشرف غني دی چې امريکايي تابعيت لري او د خپل عمر څلويښت کلونه يې په امريکا کې تير کړي دي.

نوموړی هم د نورو امريکايي بريښو په څير له امريکايي يرغلګرو سره يوځای کابل ته راوستل شو، لومړی يې د کرزي په کابينه کې د مالي وزارت ورته وسپارە خو د ده د بد اخلاقي له امله يې هلته ګذاره ونشوه، کابل پوهنتون ته يې تبديل کړ ، هلته يې هم کار ور نه کړ بالاخره په کال ۲۰۰۹ کې له بل امريکايي مزدر کرزي سره په تاکنيزې سيالي کې ودريده خو کاميابي يې تر لاسه نه کړي شوه.

په ۲۰۱۴م کال کې يې دوهم ځل بيا ولسمشريزو تاکنو ته ځان کانديد کړ خو دا ځل د شمالي ټلوالې له ډاکټر عبدالله سره په غاړه کې ولويده او بالاخره يې د امريکا د پخواني وزير خارجه جانکيري په منځګړيتوب ګډوله شرکت جوړ کړ چې په ترڅ کې يې د افغانستان ټول مادي او معنوي ارزښتونه ليلام کړل.

د اشرفغني په پنځه کلنې کرغيرنې واکمنۍ کې يواځې د هغو کسانو د وژل شويو شمير کوم چې د ده رسمي عسکرو شمير ترڅلويښتوزرو اوړي،عادي ولسي افغانان چې د ده د بادرانو امريکايانو او د ده د اجرتي قاتلينو لخوا وژل کيږي د هغوی شمير په

ورځ کې درې سوه دی چې په پنځو کلونو کې یې د ضرب محصول تر سلګونو زره هم زیاتیږي.

د افغانانو پرعام وژنې سربیره په هیواد کې د بد امني ، اداري فساد، اجباري مهاجرت، بې کاري، اخلاقي بې بندوباري او پربشري حقونو تیری یې د واکمنې نورې مهمې لاسته راوړنې دي.

د امریکایي اشرف غني او روسي ببرک کارمل ترمنځ ډیر مماثلتونه شته دي خو په افغان وژنه او ولس ځوروونه کې اشرف غني پربببرک کارمل ډیر وړاندې دی.

نوموړي د خپلې واکمنۍ په دوهمه ورځ د امنیتي ترون تر عنوان لاندې امریکایانو ته د افغانستان سپارلو سند ورکړ.

د دې سند له مخې به امریکیان لس کاله د افغانانو خلاف د هرډول جنایت تر سره کولو قانوني حق لري.

د همدې سند له مخې امریکایانو په افغانستان کې مسجدونه بمبار، مدرسې یې ویجاړې ، روغتونونه تباه او په سلګونو هغه عسکریې ووژلو چې د دوي د محافظینو او مدافعینو دنده یې لرله.

خو د امریکایي ببرک کارمل (اشرفغني) له دې ټولو خدمتونو سره سره نوموړی برسیره پر دې چې د افغانانو بد ایسي خپله امریکایانو ته هم سخت منفور او د امریکا لیونی ولسمشر ټرمپ تیار نه دی چې د یوې لحظې لپاره خپل لیوني حضورته ومني.

اشرفغني څه چې د هغه د فاسد رژیم نور چارواکي هم د امریکایي ویزې له ترلاسه کولو محروم او امریکایان تیارنه دي چې عادي شتون یې په خپله خاوره کې ومني.

روسي ببرک کارمل هم چې په لکونو افغانان یې د خپلو بادارانو شورویانو په لاس ووژل اخیري نتیجه یې دا شوه چې هغوی خپل دغه وفادار مزدور ته دومره فرصت هم ور نه کړ چې سا یې د شوروي اتحاد په خاوره کې وخیژي ، بلکې د ځانکندن په حال کې یې له خپلې خاورې وشاړه ، هماغه و چې د افغانستان او ازبکستان په پوله حیرتان بندرې بنارکې هلاک او په حسرت او تأسف سره یې له نړۍ سترګې پټې کړې.

پر امریکایي ببرک کارمل (اشرفغني) باندې هم هماغه شیبې راتلونکي دي، ځکه نوموړی یې له خپلې ټولې بیدني او ګوډاګیتوب سره سره په ژوند لا د هغه له قبلې (سپینې مانۍ) څخه شړلی دی او امریکایان ورته د یوه فاسد او بې مروته مزدور په سترګه ګوري.

همدا په افغانستان کې د ټولو پردې پالو مزدورانو بد انجام دی.

د پردې پالو ګوډاګیانو مخ دې تور وي ،

د ټرمپ تازه کوابنس

د امریکا اصل څېره لا روښانه کړه!

حسن مومند

څو ورځې وړاندې دامریکا ولسمشر ـ ټرمپ د پاکستان دلومړي وزیر عمران خان سره په ګډ خبري کانفرانس کې وویل چې که لس ملیونه افغانان ووژنم په لس ورځو کې افغان جنګ ختمولی او افغانستان دنړۍ له جغرافي څخه ختولی شم .

دا چې ډونالډ ټرمپ دا څرګندونې ټول غیور او باتور افغان ولس ته سخت سپکاوی دی نو دکابل اداري دلاسپوڅو مشرانو پرته نور ټول ولس دده دا څرګندونې په سختو تکو غندلې دي او دکابل لاسپوڅې اداره یې دکمزورې دریځ غوره کولو له املـه ترسخته نیوکو لاندې نیولې ده.

له دې انکار نه شي کېدای چې امریکا دنړۍ ترټولو ستر زبرځواک دی؛ دپرمختللو عسکري وسایلو سره یې دنړۍ د بل یو ستر هېواد وسایل هم نه شي پرتله کېدای؛کیمیاوي وسلې یې له هرچا پرمختللې دي او د انسانانو دوژلو او دنړۍ دورانولو لپاره یې دومره زیات اتوم بمونه جوړ کړیدي چې زمونږ په څېر یو یا دوه هېوادونه نه بلکې که وغواړي نو دنړۍ ټول انسانان پرې وژلی او توله نړۍ پرې ورانولی شي .

او د امریکا له لورې عملاً داسې ګامونه پورته کول څه له توقع لرې هم ندي ځکه چې په نړۍ کې یواځې همدې امریکا دانسانانو دقتل عام لپاره اتوم بمونه کارولي دي او په ټولمحو کې یې دجاپان په دوه ښارونو هیروشیما او ناګاساکي کې د ۲ سوه ۶۰ زره نه زیات دمېرمنو او کوچنیانو په شمول بې ګناه عام انسانان وژلي دي او دا دواړه ښارونه یې لوتې لوتې کړيدي ؛نه امریکا ته چا ددې ستر جرم سزا ورکړيده؛نه پرې چا کوم بندیز لګولی دی؛نه ترې چا پوښتنه کړيده او نه هم امریکا پخپله دا اخلاقي جرأت کړيدی چې د وژل شویو تنانو او دورانو شویو ښارونو تاوان ورکړی او یا پرې پښېمانتیا ښکاره او جاپان ته ددې ستر وراړول شوي تاوان له نورو لارو تلافي وکړي بلکې برعکس یې له دې پېښې نه پس پرجاپان ګن بندیزونه ولګول؛پکې یې فوځي ادې جوړې کړې او له تېرو څه دپاسه ۷ لسیزو راهیسې یې جاپان دمستعمرې په څېر ترخپل نفوذ لاندې وساتلو.

امریکا چې رومبې پرافغانستان او بیا پرعراق یرغل وکړ نو په تېرو کابو ۲ لسیزو کې په دې دواړو هېوادونو کې وژنې او ورانۍ په جاپان کې له ورانیو او وژنو لس چنده زیاتې دي خو فرق صرف دومره دی چې جاپان کې ورانۍ او وژنې په څو لمحو کې وې او دلته وژنې او ورانۍ تدریجي وې.

موږ دامریکا نه نه خپل انتقام اخستی او نه پدې توانېدلي یو چې ترې وپوښتو چې داولې؟

زمونږ ځوانانو دخپلو وینو او سرونو په سترو قربانیو امریکا او نورو اشغالګرو ته دېر مالي او ځاني تلفات وراړولي دي خو دا زمونږ ملت ته درسېدلو تلفاتو په پرتله دېر کم دي.

نو تدریجي دول یې چې راباندې په ملیونونو بمونه راوغورځول کورونه،جوماتونه،ښونځي،مدرسې هسپتالونه او نور یې راوران او په سونو زره بې ګناه انسانان چې زیاتره یې کوچنیان او مېرمنې وې راته ووژل نو که په یوځل زمود په ملیونونو هېوادوال وژل او ټول هېواد مولوتې لوتې کول وغواړي موږ دا نه وایو چې ګیني امریکا به پرې داسبابو په نړۍ کې ونه توانېږي؛موږ دا دعوی هم نه کوو چې ګیني موږ به بیاپردوې حمله وکړو او ژرېه ترې خپل انتقام واخلو.

ټول اشغالګرمو دالله تعالی انتقام ته پرېښي دي او دالله تعالی نه مو سل په سلو کې دا امېد دی چې لکه څرنګه یې چې پرموږ د حمله کونکو انګریزانو او روسانو نه زمونږ انتقام واخست؛توته یې کړل او جغرافي یې بدلې شوې؛زمونږ یقین دی چې امریکا به هم دافغانستان نه دوتلو نه پس الله تعالی توته توته کړي او کومه جغرافیه یې چې اوس ده دا به یې پاتې نه شي.

دامریکایې ولس حال ډېر دافسوس وړ دی چې ددیپلوماسۍ او حکومت داری د ادابو نه ناخبره؛ دعقل نه عاري؛ یو بد اخلاقه او نارامه تن یې یواځې له دې امله خپل ولسمشر جوړ کړ چې مالدارو او دانتخاباتو د کمپاینونو پرمهال یې غولونکې نارې پورته کړې وې.

او پرحال یې له دې زیات افسوس پدې پکار دی چې همدا تن یې اوس لکه دشتریې مهار ازاد پرېښی دی چې دیو غریب ولس د ۱۰ ملیونه انسانانو دوژلو داشغال شوي هېواد د نړۍ دنقشې نه دختمولو او دجغرافې دبدلولو خبرې یې کوي.

امریکایې ولس چې ځان ژمن ولس بولي داورته ډېره د شرم خبره ده خو پدې شرط چې احساس ولري.

دټرمپ دا څرګندونې بیا په داسې حال کې دي چې دافغانستان نه دامریکایې فوځونو دوتلو او ددوئ پرضد د افغانستان دخاورې نه کاربدلو پرموضوع د امریکا او اسلامي امارت ترمنځ خبرې روانې دي؛ددې خبرو اترو ۷ پراوونه تېرشوي او اتم پراوته یې چې ترټولو مهم دی دواړه لورې تیارې نیسي ؛نودټرمپ اونورو لوړ رتبه واکمنانو داڅرګندونې روانومذاکراو ته ډېر تاوان رسولی شي.

کـه ټرمـپ هرڅـومره احمـق شي نـړۍ پـدې پوهېږي چې ټولې خبرې هغه له خپل ځان نـه نـه شي کولی؛ بلکې دامریکا اصل واکمنان چې څه غـواړي هغه دده دخولې نـه په ډېر چـل او هـنر راوبـاسي ؛ دټرمـپ دا تـازه څرګنـدونې هـم همداسـې ښـکاري؛ امریکا به له دې لوي ګوابښ له لارې اسـلامي امـارت ترخپل فشار لاندې راوستل غـواړي ترڅـو دمـذاکراتو پدې راتلونکي مهم پراوکې یې یوه نیمه هغـه غوښـتنه ومنل شي چې تراوسه اسلامي امارت نده منلې .

هو!امریکا به دخپل بـدعادت لـه مخـې دخپلـو شـومو اهـدافو دحصـول او دکـوم عـالي هـدف نـه د اسلامي امارت دټېرېدنې هڅې وکړي خـو امریکـا تـه موږ په ټېرو ۱۸ کلونو کې دا ورښـودلې ده چـې مـوږ خپلو اهدافو ته په سوال نـه یـو رسـېدلي؛موږ دخپلـو وینو او سرونو په قربانیو دامریکا او نورو اشغالګرو په مقابل کې دا جنګ ګټلـی او خپلـو عـالي اهـدافو تـه رسېدلي یو.

زموږ دا عالي اهداف موږ ته له خپلـو ځانونونـه ډېر عزیز دي؛موږ ته ګوابنونه زموږ مورال لا اوچتوي موږ به ټول له خپلو سرونو تېر شـو خـو هیڅکلـه بـه دخپلو عالي اهدافو نه ټېر نه شو او نـه بـه تـرې شـاته شو. ان شاء الله تعالی.

د مجاهدينو د بريالیتوب لاملونه

معين احمد (معين)

مجاهد لکه څرنګه چې په پوځي چارو او قتال کې محاربوي مهارتونو او نظامي تعليماتو ته اړتيا لري، همدا ډول په معنوي لحاظ رياضت، تزکيې او تقوی ته ضرورت لري.

په دې اړه د العقد الفريد مؤلف ابن عبدربه رحمه الله د خپل کتاب په لومړي ټوک (۱۱۷) مخ کې داسې وايي:

ژباړه:

حضرت عمر ابن الخطاب رضی الله عنه د مصر والي حضرت سعد ابن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه ته وليکل:

له حمد او ثنا وروسته: زه تاسو ته په هرحال کې د الله تعالی په تقوی امر کوم، څکه تقوی پر دښمن باندې د بريالیتوب او موفقيت تر ټولو غوره وسيله او د جګړې تر ټولو قوي تکتيک دی.

همدا راز زه تا او لتاسره ټولو مجاهدينو ته د ګناهونو په پرېښودلو امر کوم؛ څکه د پوځ ګناهونو د هغوی لپاره تر ټولو لوی دښمن او په دوی باندې د دښمن د غلبې لامل دی.

مسلمانان چې پرخپل کافر دښمن بريالي کيږي هم د کافرانو د بدو عملونو او له الله تعالی څخه هغوي د نافرماني له وجې باندې غالبه کيږي، که دا خبره نه وي خو نه زمونږ پوځي وسائل او امکانات له هغوي سره برابر دي او نه هم زمونږ تعداد او شمير د هغوی له تعداد او شمير سره برابر دی.

که خدای مه کړه مونږ او دښمن د الله په معصیت کې سره برابر شو بیا به څرنګه پرهغوی باندې غلبه ترلاسه کړو؟

تاسو پر دې خبره پوه شئ چې ستاسي په ټولو کړو وړو کې په تاسي باندې د الله تعالی له لوري حفظه ملائکې مقررې دي، ستاسې ټول اعمال هغه څاري او لیکي یې، تاسو له هغوی څخه وشرمیږئ او چې کله د الله په لاره (جهاد) کې یاستئ نو د الله معصیت مه کوئ.

تاسو دا مه وایاست چې زمونږ دښمن خو کافر او بد عمله دښمن دی هغه به الله تعالی پر مونږ نه مسلطوي که څه هم چې مونږ کمه ګناه وکړو؛ ځکه ډیر ځله دا لیدل شوي چې الله تعالی د صالحو خلګو د کمې ګناه له وجې پر هغوی ډیر سخت دښمن مسلط کړی او په بني اسرائیلو کې د دې ډیر مثالونه شته دي چې د هغوئ د لیږ ګناه له وجې به ورباندې الله تعالی ډیر ظالم دښمن مسلط کړ...(العقد الفرید لومړی ټوک (۱۱۷) مخ.

مجاهد ته په کار ده چې تر بل هرچا باید خپل فکر او ځان له ناسمو افکارو او کړنو څخه پاک وساتي.

ځکه مجاهد د الله تعالی پر ځمکه باندې د الله د دین د حاکمیت دعوه لري.

نو که دی (مجاهد) پر خپل ځان د الله حکم نافذ نه کړي، بیا به څرنګه هغه د الله پر نور مخلوق نافذ کړي؟

مجاهد باید په خپل جهادي تقسیم الاوقات کې له خپل ځان سره محاسبې ته ځانګړی وخت ورکړي، تر څو په هغه د خپلو ورځنیو چارو محاسبه وکړي چې څومره یې هغه د شرعي احکامو مطابق تر سره کړې.

جهاد چې په اسلام کې تر ټولو غوره عمل او ذروة سنام الاسلام ورته ویل شوی هغه په دې صورت کې چې د مجاهد دم او قدم دواړه د شرعي احکامو مطابق تر سره شي.

په ټولو قراني ارشاداتو کې د مسلمانانو غلبه د هغوي د عقیدې په سوچه والي او نیک عمل پوري مشروط شوې، که خدای مه کړه مجاهد په عقیدوي او عملي لحاظ نیمګړتیاولري بیا یې د خپل هدف ته رسیدل ناشونی دی.

نو خپلو جهادي آرمانونو ته د رسیدو او پرخپل دښمن باندې د غلبې لپاره مجاهدین تر بل هرچا زیات باید الهي لارښوونو ته متوجه او خپلې ټولې کړنې د شرعي احکامو په رنا کې تر سره کړي.

د ۲۰۱۹ز. کال د جولای دمیاشتې په لومړۍ نیټه دفراه ولایت دمرکز اړوند دهیک سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې خلور تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۲مه ګډو خواکونو د لوګر ولایت دمحمدآغې ولسوالۍ په زرغون شهر سیمه کې دچاپې په مهال دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او خلکو ته یې پراخ مالي زیانونه هم اړولي دي. همدارنګه یرغلګرو د څرخ ولسوالۍ آبجوش کلي باندې هم چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، درې تنه عام کلیوال یې شهیدان کړي او شپږ تنه یې بندیان کړي دي.

د جولای په ۳مه یرغلګرو او حکومتي عسکرو د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ دګاري بازار په سیمه چاپه وهلې، کورونه یې تلاشي کړي، ډیر خلک یې وهلي اوخوړولي او درې نوې (۹۳) دوکانونه یې سوځولي دي.

د جولای په ۵ مه د پکتیا ولایت دځمکنیو ولسوالۍ په جګ اورګوړ سیمه کې د داخلي عسکرو د ثقیله وسلو په پیرونو کې دوه ماشومان شهیدان او درې ژوبل شوي دي.

د جولای په ۵مه دهرات ولایت دشیندنډ ولسوالۍ د کوک په سیمه کې یرغلګرو په دوو جلا ډرون حملو کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د جولای په ۵مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ د ګردن مسجد په محمدو کلي چاپه وهلې، پنځه تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي او کلیوالو ته یې پراخ مالي تاوان هم رسولی دی.

د جولای په ٦مه د بادغیس ولایت دغورماچ ولسوالۍ د غلیمولاغ په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال دوه تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د جولای په ٦مه د غزني مرکز اړوند، سپنده سیمه کې د شلګر ولسوالۍ د زاړه کلینک دوه مؤظف ډاکټران (ډاکټر ګل احمد، او ډاکټر موسی خان) دیرغلګرو په یو ډرون حمله کې شهیدان شوي دي.

د جولای په ۷مه د غزني مرکز اړوند پیر زاده کلي ته ځیرمه د اشغالګرو په ډرون برید کې د کلي ملا امام (مولوی احمد) او یو بل کلیوال سپین ږیری شهیدان شوي.همداراز د شلګر ولسوالی په ګبرو کلي کې د اشغالګرو په یو بل ډرون برید کې د عبدالهادي په نوم یو کلیوال او دوې لونې یې شهیدانې شوې دي.

د جولای په ۸مه یرغلګرو د بغلان ولایت د ډنډ شهاب الدین په کتب خیلو سیمه کې پر یو کور ډرون حمله کړې، په دې برید کې د یوې کورنۍ اووه تنه غړي شهیدان شوي دي.خلکو دشهیدانو جسدونه پلخمري ته راوړي وو او د پلخمري-مزار لار یې داعتراض په توګه د ترافیکو پر مخ ټرلې وه.

د جولای په ۸مه دهرات ولایت دشیندند ولسوالی د سنګچال دکاریز دینک سرته د یرغلګرو په ډرون برید کې دوه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۸مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالی تنګي کې دسیدانو پر روغتون چاپه وهلې،د دوو ډاکټرانو په ګډون یې ځلور تنه شهیدان کړي، یو متخصص ډاکټر یې بندي کړی او د یادشوي کلینیک وسایل او تجهیزات یې سوځولي دي.

د جولای په ۱۰مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالی په محب خیلو کلي کې دحکومتي قواوو دهاوان په ډزو کې د یوه کور شپږ تنه غړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جولای په ۱۰مه دفراه ولایت دبکوا ولسوالی مرکز ته ځیرمه یرغلګرو او داخلي عسکرو په سیمه کې دملکي خلکو پر یوازیني کلینیک چاپه وهلې، کلینیک کې طبي وسایل اوامبولانس موټر یې سوځولي او له ورځېرمه دوکانونو یې قیمتي شیان وړي دي.

د جولای په ۱۰مه د غزني ولایت دشلګر ولسوالی په باګو کلي کې یرغلګرو د ولسي خلکو پر یو سراچه ډوله موټر ډرون برید کړی، چې له املې یې درې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.همدارنګه په اسماعیل کابلو کلي کې د اشغالګرو په یو بل ډرون برید کې یو تنکی ځوان چې پسونه یې ځرول شهی شوی دی.

د جولا ی په ۱۱مه د ارزګان ولایت د چورې ولسوالی د قلعه راغ په سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې دوه تنه کلیوال شهیدان شوي دي.

د جولای په ۱۲مه دهرات ولایت د پښتون زرغون ولسوالی د کشمیراباد په سیمه کې د سنګوري اربکیانو دثقیله وسلو په ډزو کې شپږ تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۲مه دفراه ولایت دګلستان ولسوالی د دیوال سرخ بازار په سیمه کې یرغلګرو دولسي-وګړو د سپرلی پر یو سراچه موټر ډرون برید کړی، چې له املې یې په موټر کې سپاره ځلور تنه ولسي-وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۱۲مه یرغلګرو او داخلي عسکرو د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ د سیاه څنګل په سیمه کې دچاپې په مهال له ګنو کورونو قیمتي توکي وړي، نقلیه وسایط یې سوځولي او شپږ تنه ښځې او ماشومان یې شهیدان او ټپیان کړي دي.

د جولای په ۱۳مه د پکتیا ولایت داحمد خیلو ولسوالۍ د تنګي خولې سیمه کې داخلي عسکرو دوه کلیوال شهیدان او یو تن زخمي کړی دی.

د جولای په ۱۳مه ګډو ځواکونو د میدان وردګو ولایت د جغتو ولسوالۍ په لاغریو، کمال خیلو، چوپان او بلندخیلو کلیو باندې چاپې وهلې،د کورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، ځاروي یې ویشتلي او دځلورو ورونو په ګډون یې اووه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د جولای په ۱۴مه د بغلان ولایت دګذرګاه نور ولسوالۍ په دهن جراب کلي کې اربکیانو دوه تنه عام کلیوال شهیدان کړي دي.

د جولای په ۱۴مه ګډو ځواکونو د دایکندی ولایت د ګیزاب ولسوالۍ په خلج سیمه کې دښځو او ماشومانو په ګډون ۲۳ تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د جولای په ۱۵مه د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ په زرغون شهر سیمه کې داخلي عسکرود شهید اختر محمد منځني ښوونځي یو زده کونکی(همت الله) شهید کړی دی. همداراز مازدیګر مهال بیا دعسکرو د دهشکې په پیرونو کې دوه تنه ملکي هیوادوال شهیدان او نهه تنه ټپیان شوي دي.

د جولای په ۱۵مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۱۵مه امریکایي الوتکو د لوګر ولایت مرکز اړوند کمالخیلو سیمه کې هغه مسجد بمبار کړ چې خلک پکې د قرآن کریم تفسیر ته ناست وو، په دغه بمبار کې د کمال خیلو مسجد په یو مخیزه توګه ویجاړ شوی، څلور ویشت(۲۴) تنه ملکي هیوادوال شهیدان او لس تنه پکې ټپیان شوي دي.

د جولای په ۱۵مه د جوزجان ولایت دقرقین ولسوالۍ په مربوطاتو کې اربکیانو سیمه ییز سپین ږیری دیني عالم(مولوي الله داد سخاوي) شهید کړی دی.

دجولای په ۱۶مه د بادغیس ولایت په آبکمري ولسوالۍ کې د ګډو ځواکونو په بمبار کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او اووه نفره ټپیان شوي دي.

د جولای په ۱۷مه اربکیانو د سمنګان ولایت دروي دوآب ولسوالی په روي سیمه کې یو طالب العلم او یو کروند ګر شهیدان کړي. همداراز یوه ورځ وروسته ددې ولایت د تګاب ولسوالی د حاجیانو په کلي کې د داخلي عسکرو په ډزوکې یوه میرمن شهیده شوې ده.

د جولای په ۱۷مه د هلمند ولایت دموسی کلا ولسوالی په میان دښت سیمه کې یرغلګرو دملکي خلکو پر یوه ګڼه ګونه ډرون برید کړی، چې له امله یې اووه لس تنه هیوادوال چې اکثر یې دهیواد له نورو سیمو دمزدوری لپاره سیمې ته راغلي وو، شهیدان شوي دي.

د جولای په ۱۷مه دهلمند ولایت د کجکي ولسوالی دګندم ریز په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې اته تنه ولسي وګړي،چې له میدان وردګ ولایت څخه دمزدوری لپاره سیمې ته راغلي وو، شهیدان شوي دي.

د جولای په ۱۸مه د کابل ولایت دموسهي ولسوالی په شتک کلي کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي او نهه تنه یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د جولای په ۱۸مه د ننګرهار ولایت دسرحرود ولسوالی په کاکوحیلو او کړسو سیمو کې حکومتي عسکرو دچاپې په مهال دري تنه ملکي وګړي شهیدان او دري تنه بندیان کړي دي.

د جولای په ۱۹مه د بادغیس ولایت دمرغاب ولسوالی په اکازو سیمه کې د اشغالګرو په بمبار کې دوې ښځې او دري ماشومان شهیدان شوي دي.همدارنګه دیادې شوې ولسوالی په خوجه سیمه کې هم پر یو کور د بمبار په ترڅ کې یوه ښځه شهیده او یو سړی ټپي شوی دی.

د جولای په ۲۰مه د فاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالی په کوه صیاد سیمه کې داخلي عسکرو دملکي خلکو یو سرای سوځولی، یو ملکي وګړی یې شهید کړی او یو بل تن یې ژوبل کړی دی.

د جولای په ۲۰مه د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالی په چمتلي سیمه کې حکومتي عسکرو دچاپې په مهال دوه کلیوال چې سره ورونه وو،شهیدان کړي دي.

د جولای په ۲۱مه اشغالګرو د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالی د دشت خاک په سیمه کې د کوچیانو په یوه کېږدی بمبار کړی چې له امله یې د دغې کورنۍ پنځه ښځې او څلور ماشومان شهیدان شوي او شپږ تنه ټپیان شوي دي .دجولای په ۲۱مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالی په خان اباد سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوې میرمنې شهیدانې شوې دي.

د جولای په ۲۳مه د بادغیس ولایت دمرغاب ولسوالی د جوی ګنج په سیمه کې د یرغلګرو په بمبار کې دولسي وګړو دوه کورونه زیانمن شوي. یو ملکي وګړی(معلم عبدالوهاب) پکې شهید او دوه ماشومان زخمیان شوي دي.

د جولای په ۲۳مه د بلخ ولایت دچمتال ولسوالی په اسیاخان سیمه کې د اشغالګرو په ډرون حمله کې یوه ښځه او یو سړی شهیدان شوي او کور یې ویجاړ شوی دی.

د جولای په ۲۵مه ګډو ځواکونو د غزني ولایت د قره باغ ولسوالی په کنډه لغو، لغرجو، مروردار او لوګرو کلیو باندې چاپې وهلې، دوه مسجدونه یې وران کړي او درې تنه عام کلیوال یې شهیدان کړي دي.

د جولای په ۲۶مه یرغلګرو او داخلي عسکرو دفراه ولایت د پشتکوه ولسوالی د کاریزک په سیمه کې څو کورونه،یوه مدرسه او یو مسجد تخریب کړي او خلکو ته یې مالي زیانونه اړولي دي.

دجولای په ۲۷مه دبادغیس ولایت د جوند ولسوالی د ریګي په سیمه کې یرغلګرو دملکي خلکو دسپرلی پر یو موټر برید کړی چې له املې یې په موټر کې سپاره څلور تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي دي.

د جولای په ۲۸مه د پروان ولایت د سیاګرد ولسوالی په قمچاق او دشتک سیمو کې حکومتي ځواکونو د ملکي خلکو په ګډو کورونو، مسجد او مدرسه چاپه وهلې، مدرسه، جومات او څینې کورونو یې په بمونو الوزولي، اووه لس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان او یو نامعلوم شمېر یې ټپیان کړي دي، همداراز له سیمې څخه د وتلو په مهال یې دیرش تنه عام کلیوال د بندیانو په توګه له خان سره بېولي دي.

د جولای په ۲۸مه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالی په مربوطاتو کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې درې ماشومان شهیدان اودوه ټپیان شوي دي.

دجولای په ۲۹مه د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالی په پیوو سیمه کې د داخلي عسکرو دډیسي توپ په ډزو کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان او زخمیان شوي.همداراز په ورته وخت کې یرغلګرو دولسي خلکو پر یو سراچه موټر ډرون حمله کړې چې له املې یې درې تنه عام کلیوال شهیدان شوي دي.

دجولای په ۲۹مه د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالی د زرتالي او شینغولي په سیمو کې د ګډو ځواکونو په هوایې برید کې درې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۳۰مه یرغلګرو او داخلي عسکرو د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالی په ګندمک سیمه کې دچاپې په مهال شپږ تنه ملکي هیوادوال شهیدان او دوه تنه ژوبل کړي او یوه لیسه او درې کورونه یې تخریب کړي دي.

د جولای په ۳۰مه دفاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالی د دون قلعه په سیمه کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې شپږ تنه ماشومان او میرمنې شهیدانې او زخمي شوې دي.

د جولای په ۳۰مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالی دنهرسراج دپوهنتون په سیمه کې دیرغلګروپه ډرون حمله کې شپږ تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبريال ويبپاڼه ،لراوبر = ،ن ټکی اسيا=اوبينوا=]

محسن پکتین

د کابل شړلې او ترلې اداره کې د هغې د چارواکو رول

مـوده وړانـدې د ارګ اصـطلاحي سـولې شـورا د دارالانشاء مشر ـ عمـر داودزي ویـلي و د امریکـا او طالبـانو ترمنځ د سولې خـبرو اتـرو پـه تـړاو زمـوږ (ارګ) مالوماتونـه کافي دي، خو خلیلزاد دي په ډیپلوماتیکه ژبه نـه بلکې پـه سـاده ژبـه لـه افغانـانو سره د قطـر د اوږدو ناسـتو جزئیـات شریک کړي، اوني وړانـدې بیاهم یو چارواکي ادعا وکړه چې یاد مالوماتونه پـه لیکلې بڼـه ورسره شریکـوي، همدارنګـه طالبان په خپله دې خـبره چـې لـه کابـل اداري سره د یـوې اداري په توګه خبري نکوي ترغره هم درانه ولاړ دي خو بیا هم له د یادي اداري اړوند چارواکي تړې له دې دربڅ څخه د تخطی تمه کوي.

دا به پرېږدو چې دنیـا پـوهېږي دغـه خلـک د خـبرو اترو له دې کېسو په بشپړ ډول منزوي، بائې پاس، شـړلي او تړلي دي، تازه ولسي جرګې یوځل بیـا ویـلي چـې پـه بشپړه توګه شاته شوي یو، خو دغـه چـارواکي تـر اوسـه لاهـم ولي دومره لویي تېروتنې کوي؟!

حقیقت دا دی چې د کابل اداره کې د هغې د چارواکو رول د کارمندانو له حیثیته لوړ نه دی، اوس چې امریکایـان خپله له طالبانو او افغان ولس سره د سـولې لـه لارې دغـه اداره پای ته رسوي، د یادو کارمندانو دنـدې یې لـه ګـوابښ سره مخ کړې نو پرخپلو دندو پـاتې کېـدو او د امریکایـانو د شخصي ګټو د تحقق لپاره یـې د ټولې اداري دعـوه کـړې او غـواړي د یـوې اداري پـه توګـه لـه طالبـانو سره مـذاکرات وکړي.

نـو ایـا دا شـونې ده چې طالبـان لـه دومـره یـوځې او سیاسي ځواک سره بیا هم له امریکایانو سره ببلې او د هغـو د تېل شوې منزوي، شړلې او ترلې اداري لـه کارمنـدانو سره یې ببلې خبري کوي؟! یا دا چې امریکا یا هم طالبان د یادو کارمندانو د دندو بقاء لـه خپلـو مـلي او سـیاسي ګټـو پرتـه دومره اړینه و ګڼي؟! او یا هم دا چې د امریکا وروسته دغـه اداره د دې کارمندانو میراث و بلل شي؟! او... هېڅکله هم نه.

هو! طالبان به یې د یو سیاسي خو کمـزوري او مـاتي خوړلي جهت په توګه قطر ته ور وغواړي او د نورو سیاسي جهتونو ترڅنګ به ورسره د راتلونکي حاکمېـدونکي نظـام د چارواکو په توګه د یـاد نظـام پـر ځرنګـوالي ورسره وغږېـږي

هغه هم د غاړې خلاصولو تر کچې، او کنه د کابل اداري هیڅ چارواکی د دې وړ نه دی پاتې چې طالبان ورسره د خپل نظام په څرنګوالي غږېږي، بلکې دوی لکه څنګه چې په تېر کې د پردیو په چوپړ کې و اوس هغو هم ماتې خوړلې دوی هم چې هرډول وي د طالبانو نظام به په افغانستان کې منې.

د اشرفغني نادودي خو ببخي زياتي دي، په دې وروستيو کې يې له ټرمپ څخه د هغه د خورا ډاګېزو څرګندونو وضاحت په داسي حال کې وغوښت چې د امریکا میشت ژورنالیست او شاعر عبدالباري جهاني او پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون ګڼ شمېر نورو افغانانو او افغان سیاسیونو ورته په بالمثل واضحو ټکو غوڅ او توند غبرګونونه وښودل او پر معقول او قوي استدلال يې د هغه څرګندونې و غندلې، ځيني امریکايي سیاستوال او ژورنالستان لاهم د ټرمپ څرګندونې بې ځايه او نامسئوله ګڼي، نو دغني دغه وضاحت غوښتل د يادو څرګندونو د توجیه غوښتنې په مانا و، خو اوس تازه په تازه ټرمپ خپلې يادې څرګندونې یوځل بیا له نویو زیاتونو سره تکرار کړې چې که ټکو ته يې وکتل شي نو د اشرفغني د غوښتې وضاحت په مانا دي، اوس نو چې وضاحت يې هم ترلاسه کړ څه به وکړي؟!.

تازه يې یوځل بیا خپل عسکر د پردیو ګټو د خوندیتابه لپاره کرایي نومولي او زیاته کړې يې چې د امریکایانو او اوروپایانو ژوند او امنیت افغان عسکر ژغوري، د دې ترخنګ يې دا هم ویلي چې امریکایانو او اروپایانو د نومورې د عسکرو د تمویل او تجهیز ډاډ ور کړی او یواځې يې نه پربېږدي، په داسي حال کې چې د غني له دې څرګندونو سره هممهال (په عین وخت) په امریکا کې د دوو جلا بریدونو له املې ۳۰تنو ژوند له لاسه ور کړی او ګڼ نور يې ټپیان دي، او د تمویل اړوند همدومره ویل بسنه کوي چې نړدې یوه اونۍ وړاندې امریکايي معتبرو رسنیو خبر ور کړ چې بهرنیانو په افغانستان کې تر۲۰۰پورې مرمۍ ضد امبولانسونه له منځه وړي خو خپلو مزدورو عسکرو ته يې نه دی ور کړي، همدارنګه څه موده وړاندې امریکایانو د ښه کیفیت چورلکې په دې دلیل له افغان عسکرو وګرځولې چې هغوی يې وړتیا نه لري، خو د غني دا ډول څرګندوني هرځوک پوهېږي چې د بهرنیانو د ملاتړ د دوام او په ابتر حالت کې عسکرو د خپلې مورال یوځل بیا لوړولو او دجګړې اشتها وربیدا کولو لپاره دي، خو دا دواړه خیال است و محال است و جنون.

د دې ټولو اصلي لامل ښایي په دې وروستیو کې د دوی په خپله خامه او نیمګړې ډیپلوماسۍ او سولبدلې غلامۍ يې باوري وي، په دومره ستر ابتلائي منزویتوب کې چې نه پر اسمان ستوری او نه هم په ځمکه سیوری لري له څه ویلو هم نه صبرېږي، نو ډېر محتاط اوسي که سپین وایي نو داسي نه د چا پر ډیپلوماټیکه ژبه!! نه وي پوهبدلي!!! او په تېر کې د محب کانه ور وشي، نو په خپله د سپین ویلو پر ځای نورو ته (پر ساده ژبه ویلو، وضاحت غوښتلو، د تمویل ډاډ او...) عجیب اصطلاحات کاروي او دا د هغوی تر ټولو ابتر حالت په ډاګه کوي.

په دې وروستیو کې دوی د تېرو۱۸کلونو د لاسته راوړنو ټکی ډېر تکراروي، چې په دې اوږده او خونړۍ موده کې د هغوی له شعارونو سره د اسمان او ځمکې په تفاوت کې عجیبي، نادري او د هغو تلفاتو او لګښتونو په ۱۰۰مه هم نه ارزېدونکي دي چې دوی په دې موده کې ورکړي، اول خو دغه اشغال، دغه د کابل اداره او دغه هرڅه چې اتلس کاله يې دوام درلود او د زوال تر نړدې شېبو به لاهم دوام وکړي ټول د پردیو/بهرنیو په خوښه، د هغوی پر لاس او د

همدوی د ګټو لپاره رامنځته شوي، کـه یـادي ګټي تړلاسـه شوې وای یا شوې وي نـو هـم بـه ورتـه لاسـته راوړني ویـل کېدې خو زمور په هېواد کې د پردیو لاسته راوړني.

خـو کـه د ارګ لاسـته راوني یـې ومنـو، نـو ایـا د جمهوریـت پـه نـوم د ډول ډول فسـاد او بـدمرغیو نسـلونه زېږول په ځانګړې جنسي رشوتونه په دومـره درنـو تلفـاتو او لګښتونو ارزي؟! له دې پرتـه کـومي ګټي او کـومي لاسـته راوړني؟! ایـا نړیوالـو هـم د ارګ اړونـدو چـارواکو د همـدې لاسته راوړنو لپاره دومره لوړه بیه پرېکړې؟! هېڅکله نه.

ارګ چې په هره برخه کې د ښځو ونډه د هغو (بشر) حق ګڼي او پرې ټینګار لري، تړې دغه بشر د همـدې حق په ګډون هـیڅ شـی لـه جنسي- رشـوت پرتـه نشي- تړلاسـه کولای، که نوري ټولې پېښې او شواهد یې شاته پرېږدو لکـه چې د یو مسـلمان د حیـاء او ایمـان غوښـتنه هـم ده، نـو دا یواځې پارلمان او نورو دندو ته بریالی شـویو او ځینـي نـورو هغو ښځو ترمنځ له پرتلې او قضاوت څخه هم جوتېږي چې د دوی پر اصطلاح اوس معترضي نومانـدانې دي، نـو ځکـه عام قضاوت دا دی چې هره ښځه له کابل اداري د یوشي د غوښتنې لاهم فکر کوي نو له هرڅه لومړی بـه دې اړه غـور ته اړه ده چې د ارګ رښتونې لاسته راوړني (جنسي رشـوت) مني یا نه؟!

وګورئ! اشغال، د کابل اداري او... د رامنځته کېدو موخه، شعارونه او بیا یې اوس یـو ناڅـاپي پـه دا ډول عجیبـه بڼـه، نـوم او لـه اټکـل هـاخوا لاسـته راوړنـو را بوټبدل چې په دومره اوږده موده کې یـې په دې نوم څرک هم نه لګېده؟!.

د اشرفغني لومړي مرسـتیال سرور دانش بیا موده وړاندې د طالبانو اسلامي امارت دېکتاتور یاد کړ او ویې ویـل چـې کـه امریکایـان لـه طالبانو سره له هېواده د ځواکونو پر اېستلو هوکړه وهم کړي دوی بـه د امـارت د راتلـو مخنېـوی کـوي جمهوریـت او دیموکراسي به له لاسه نه باسي، نومورې په داسي حال کې له امریکایانو پرته پر خپله بسیا د دې کار سینه ډېوي چـې دنیـا او هرڅـوک پـوهېږي، د هغـه همسـنګران، اشرفغنـي، مشرانو جرګـه او.....تـول پـه واز کـومي وایـي چـې د امریکایانو له مرستو پرته مو بایللي او بایلو یې، نـو دوی دي خپل ټرون ته ژمن و اوسي او پوځیان دي نه باسي او....خو ښایي د ارګ دغـه مرسـتیال پـر دا ډول څرګنـدونو مـخ پـر ټېښته امریکایانو ته خپل تعهد ښیي.

جمهوریت او دیموکراسي چې دې ذوالحال یـاد کـړي افغانستان تـه یـې پـه راتلـو سره دلتـه هغـو ټولـو نـاخوالو او بدمرغیو لاره و موندله چې مور یې شاهدان یـو او هېـواد او ولس مـو تـرې کړېـږي، د نشـیي توکـو زیـاتوالی، ویرونـه او مرګونه، اداري او اخلاقي فسادونه او.... هغه څه چې هېـواد او هېـواد وال یـې د بربـادۍ پـر لـور ټېـل وهـلي او دنیـا پـر غړېږي ټول د همدې جمهوریت او دیموکراسي زېږنده دي چې له ارګ څخه پیل او ښېرته پر هغه پای ته رسـېږي، کلـه چې طالبان ارګ ته ننوتل د جمهوریت او دیموکراسي دغـه ارمغان ورسره سم له منځه ځي . وماذلک علی الله بعزیز.

په هیواد کې په روغتونونو او صحي مراکزو باندې د بمبارونو او چاپو په اړه

د صحت کمیسیون اعلامیه

له تیرو څو ورځو را په دې خوا یوځل بیا امریکایي اشغالګرو او د هغو کورنیو ملګرو عسکرو د هیواد په ولایاتو کې په روغتونو او صحي مراکزو باندې بمبارونو او چاپوته زور ورکړی چې له امله یې ګڼ شمیر صحي مراکز نړیدلي. د ډیرو ښو ډاکټرانو په ګډون ګڼ شمیرطبي کارکونکي شهیدان شوي، ټپیان شوي او یا نیول شوي دي.

ــ وړمه ورځ امریکایي او داخلي ګډو عسکرو د میدان وردګو ولایت چک ولسوالي په تنګي دره کې په یو مهم روغتون چې خورا ډیرو خلکوته یې صحي خدمات وړاندې کول چاپه ووهله. د ۲ ډاکټرانو په ګډون یې ۴ تنه شهیدان او یوتن له ځانه سره یوړ.

ــ همدا راز یې د فراه ولایت بکوا ولسوالي په مرکز کې هم په صحي کلینیک چاپه ووهله. کلینیک یې تر ډیره ویجاړ، دروازې او کړکۍ یې ورته ماتې کړې، طبي سامانونه او لوازم یې له منځه یوړل.

ــ د هلمند ولایت کجکي ولسوالي په مربوط ساحه کې یې د (CHC) په نامه په صحي کلینیک چاپه ووهله. کلینیک ته یې سخت مالي زیان ورساوه او ۲ تنه ډاکټران یې له ځانه سره یوړل.

ــ د هلمند د مرکز اړوند د باباجي د کلینیک امبولانس موټر یې په بمبار کې ویجاړ کړ.

ــ د غزني ولایت شلګر ولسوالي د ایمرجنسي کلینیک مدیر ډاکټر ګل احمد او یوبل ډاکټر یې په امریکایي بمبار کې شهیدان کړل.

همدا ډول د هیواد په نورو برخو کې هم د امریکایانو او کورنیو ملاتړو لخوا یې په صحي مرکزونو او روغتونو باندې په سیستماتیک ډول بریدونه روان دي.

د اسلامي امارت د صحت کمیسیون په صحي مراکزو باندې دغه ډول بې باکانه بریدونه او قصدا هغه نظامي هدف ګرځول په کلکو ټکو غندي او له ټولو بشري نورمونو ځخه مخالف عمل او جنګي جنایت یې بولي.

همدا ډول د صحت نړیوال سازمان، بشري نهادونو، حقوقي ادارو او نورو بشرپالو سازمانونو ځخه غواړي چې په افغانستان کې د صحي مراکزو په ضد د امریکایانو دا ډول وحشت وغندي، په اړه یې جدي څېړنې وکړي او د بیا لپاره د داسې جنګي جنایاتو مخه ونیسي.

د اسلامي امارت د صحت چارو کمیسیون

۱۴۴۰/۱۱/۸هـ ق

۱۳۹۸/۴/۲۰هـ ش ــ ۱۱/۷/۲۰۱۹م

د اسلام غزوات او سرايا

دمکې مکرمې عظيم الشانه فتح

په تير پسې
ابوظهير

له اُم المؤمنين اُم سلمه رضی الله عنها نه روايت دی رسول الله ص يوځل وفرمايل: ما خوب کې دابوجهل لپاره جنت کې يوخوشه وليده!

کله چې عکرمه مسلمان شو،رسول الله ص اُم سلمه رض ته وفرمايل:

دهغه خوب تعبيردادی (اصابه، دعکرمه ترجمه)

دمسلمانی وروسته دعکرمه حالت دا شو چې دتلاوت لپاره به کيناست او قرآن پاک به يې خلاص کړنو وبه يې ژړل او د بيوښی کيفيت به پرې راغی ،بيا، بيا به يې ويل:

هذا کلامُ ربی . ژ: دازما درب کلام دی ، دازما دپروردګارکلام دی (احياء علوم الدين۱/۲۵۳مخ)

بل روايت کې دي ،دمکې دفتح په ورځ دعکرمه په لاس يومسلمان شهيد شو، کله چې رسول الله ص ته داخبر ورسيد،مسکی شو ويې فرمايل : قاتل و مقتول به دواړه په جنت کې وي(مدارج النبوة،۲/۳۹۳مخ) اشاره دينه وه چې في الحال عکرمه اګرکه کافردی خو عنقريب به مسلمان شي

نهم، هبارين الاسود:

دهغه جرم داو چې مسلمانانوته يې سخت اذيتونه رسولي وو، درسول الله ص لور[حضرت زينب رض] چې کله دمکې مکرمې نه هجرت کاوه اومدينې منورې ته تله، نو هبارين اسودله خپلو خولوچکو ملګرو سره يوځای ترشا لاړل او لاره کې يې حضرت زينب رض په نيزه ووهله، هغه په يوکاني پريوته، چون امينداواره [حامله] وه، حمل يې ساقط شو اوبيا وروسته د همدې ناروغی په وجه وفات شو انا لله وانا اليه راجعون

دمکې دفتح په ورځ رسول الله ص دهبار وينه هم هدر اعلان کړې وه، کله چې رسول الله ص د [جعرانه] څخه راستون شو، هبار راغی، اودرسول الله ص په مخ کې ودريد، صحابه وو عرض وکړ، يارسول الله ص داهبارين اسود دی! رسول الله وفرمايل: ما وبيژاند.

ناستوخلکونه یوتن دهغه په لورته دپورته کیدو قصد وکړ،رسول الله ص د لاس اشاره هغه منع کړ هباره بن اسود عرض وکړ:

السلام علیک یا نبی الله!

أشهدُ الله ان لآ اله الاّ الله واشهدُ اَنّ محمداً رسولُ الله وقَد هَربتُ مِنکَ فی البلادِ وأردتُ اللّحاق بِالأعَاجِم، ثُمّ ذکرتُ عَائِدَتکَ وَصِلَتَک وَصَفحَکَ عَمّن جَهِلَ عَلَیکَ وَکُنَایانبیّ الله اَهلَ شِرکِ، فَهَدانا اللهُ بِکَ وَانقَذَنا مِن الَهلکةِ فاصفَح عَن جَهلِی وعَمّا کَانَ یَبلُغَکَ عَنِی فَانّی مُقِرٌبِسُوءٍ فَعلِی مُعتَرِفٌ بِذَنبِی فَقَالَ رَسُولَ الله ص قَدعَفوتُ عَنکَ وَقَد احسَن الله اِلیک اذهداک لِلا سلامِ والاسلامُ یَجبُ ماقَبله(الاصابة۲/۵۹۵مخ)

لسم،وحشي بن حرب:

دسید الشهداء حضرت حمزه رض قاتل (چې مفصله واقعه یې داحد غزا کې تیره شوې) دمکې نه طایف ته تښتیدلی و، اوبیا دهغه ځای نه مدینې منورې ته راغی، اسلام یې قبول کړ، او دخپل کړي قصور له امله یې بښنه وغوښته اوبیا دصدیق اکبر رض په خلافت کې چې کله د مسیلمه کذاب دمقابلې لپاره لښکر روان شو، نو وحشي هم ورسره لاړ،په کومه حربه یې چې هغه حضرت حمزه رض شهید کړی و، په هم هغه یې مسیلمه کذاب قتل کړ، دابه یې ویل: په دې وسله یو خیر الناس قتل شوی او په همدې وسله یو شرالناس هم قتل شوی (استیعاب لابن عبد البر ترجمة وحشی بن حرب، زرقانی۲/۲۱۶مخ)

یوولسم ،کعب بن زهیر:

مشهور شاعردی، درسو الله ص په هجوکې به یې شعرونه ویل،حاکم وایي:دا هم دهغو خلکوڅخه و چې دمکې دفتح په ورځ یې وینه هدرکړی شوه، خو له مکې نه تښتیدلی و، وروسته مدینې منورې ته لاړ اوپه اسلام مشرف شو درسول الله ص په مدح کې یې قصیده وویله، کومه چې په[بانت سعاد] په نوم سره مشهوره ده (فتح الباری۸/۱۰،الاستیعاب۲۹۷مخ)

رسول الله ورڅخه زیات خوشال شو او خپل څادریې ورته ورکړ.

دولسم، حارث بن طَلاطِل:

دي سړي هم درسول الله ص هجوکوله، دمکې دفتح په ورځ حضرت علی رض قتل کړ(فتح الباري۸/۱۰مخ)

دیارلسم، عبدالله بن زِبعِری:

دا یولوی شاعرو، درسول الله په هجو او مخالفت کې یې شعرونه ویل،سعید بن مسیب فرمایي: رسول الله ص دمکې دفتح په ورځ ابن زبعري دقتلولو حکم وکړ، هغه نجران ته تښتید لی و، وروسته یې توبه یې وویسته او درسول الله ص په خدمت کې حاضرشو په اسلام مشرف شو اوپه معذرت کې یې اشعاروویل، (الصارم المسلول۱۳۴مخ)

یارسول الملیک اِنّ لِسَانی رَاتِقٌ مَا فَتَقتُ اِذ اَنَا بُور

ژ:ای دالله رسوله!زماژبه هغه نقصان جبیره کوي کوم چې ما دخپلې گمراهی په زمانه کې رسولی دی

امن اللّحم والعِظَامُ بِرَبّی ثُمّ قَلبِی الشّهیداَنتَ النذیر

ژ: زما غوښه، اوزما هډوکو په پروردگان ایمان راوړی، بیا زما زړه شهادت ورکوي چې ته دخدای بشیرونذیریي(سیره ابن هشام)

څوارلسم، هبیرة بن ابی وهب مخزومي:

دا هم دهغو شاعرانوڅخه وو چې درسول الله په هجو کې به یې شعرونه ویل، دمکې دفتح په ورځ نجران لورته وتښتید او هم هلته دکفر په حالت کې ومړ،(ابن هشام سیرة، واصابه۴/۴۲۵)

پنځلسم،هنده بنتِ عتبه زوجه ابي سفیان:

دا هم هغه هنده ده چې داحد جنگ کې یې دحضرت حمزه رض ځیگر ویستلی او زبیښلی و، هنده هم په هغو ښځوکې وه چې دمکې دفتح په ورځ یې رسول الله ص دوژلو حکم کړی و، هندې رسول الله ص زیات اذیتونه رسولي وو، هغه درسول الله ص

په خدمت کې حاضره شوه اوپه اسلام مشرفه شوه، کله چې کورته لاړه نو سملاسي يې ټول بوتان مات کړل او هغوته يې په خطاب کې و ويل: په خداى سوګند ستاسويه وجه موږ په دوکه کې مبتلى وو(ابن شهام سيرة، واصابه ۴۲۵/۴مخ)

داهغه پنځلس کسان وو چې دبښني ور نه وو اوجرمونه يې خورا لوى وو، ځينو پخپل قصور اعتراف وکړ،اوتائب شول درسول الله ص په خدمت کې حاضرشول ، معذرت يې وکړ ورته امان ورکړل شو اوکوم چې پخپله سرکشي اوبغاوت باندې ولاړ پاته شول هغوى ووژل شول

دابى قحافه اسلام:

يعنې دابوبکر صديق رض دپلار د اسلام راوړو واقعه:

رسول الله ص په مسجد حرام کې ناست و، ابوبکرصديق رض خپل سپين ږيرى پلار لاس نيولى راوست او درسول الله ص په وړاندې يې مخامخ کيناوه، رسول الله ص ورته و فرمايل:

هَلاتَرکتَ الشَّيخ فِى بَيتِه حتّى اَکُونَ اَنَاآتِيه فِيه

ژ: ابو بکره! داسپين ږيرى دي ولې کورکې نه پرېښود، چې زه خپله هلته ورغلى وم

ابوبکر صديق رض عرض وکړ:

يَارسولَ الله هُوَاَحَقُّ اَن يَمشىَ اِلَيکَ مِن اَن تَمشِى اِليه اَنتَ

ژ: يارسول الله ص په ځاى ددې چې ته زما پلارته لاړوى غوره داده چې زما پلار پخپله پلې تاته راغى.

دهغه وروسته رسول الله ص خپل مبارک لاس دهغه په سينه ټيرکړ، او ورته يې داسلام تلقين وکړ، ابوقحافه اسلام قبول کړ، دزيات بوداتوب په وجه دهغه ټول مخ اوسرسپين شوى و، رسول الله ص ورته دخضاب ارشاد وفرمايه، او تاکيد يې وکړدتور والي نه يومخ پاک ، يعنې تورزنګه خضاب هيڅکله نه.

مولانا محمد ادريس کاندهلوي رح دعلامه حلبي دسيرت [سيرت حلبيه] په استناد ليکلي: چې کله ابوقحافه مسلمان شو، نو رسول الله ص ابوبکرصديق رض ته مبارکې ورکړه ، ابو بکرصديق رض عرض وکړ:

يارسول الله سوګند په هغه پاک ذات چاچې ته په حق راليږلې يې ، ابوطالب که اسلام راوړى وى نوزما سترګې به زياتې يخې شوې وې.

دصفوان بن اميه اسلام راوړل:

صفوان بن اميه دقريشو دسردارانوڅخه و، په جود وسخا کې زيات مشهورو، په ميلمستيا اوميلمه پالنه کې يې کورنى ممتازه وه، دهغه پلار اميه بن خلف په بدرجنګ کې ووژل شوى و، دمکې دفتح په ورځ صفوان بن اميه جدې ته تښتيدلى و، دهغه دتره ځوى [عميربن وهب] رسول الله ص ته راغى او دصفوان لپاره يې دامن غوښتنه وکړه، رسول الله ص ورته امان ورکړ، او دنبښې په توګه يې ورته خپله پګرى ياخادر هم ورکړ، عمير لاړ دجدې نه يې هغه بيرته راوست، او درسول الله ص په خدمت کې يې حاضرکړ اوعرض يې وکړ، اى [محمد] عمير وايي، چې تا ماته امان راکړى دى(ابن هشام ۳۸/۴مخ)

رسول الله ص وفرمايل: هو! ، صفوان وويل ماته دسوچ کولو لپاره دوه مياشتې مهلت راکړه، رسول الله ص ورته وفرمايل: تاته څلورمياشتې مهلت دى.فى الحال مسلمان نشو.

خو حنين غزوې ته درسول الله ص ملګرى شو، رسول الله ص ورڅخه عاريتاً څه زرواخيستل، حنين ته په رسيدو يې دخولې دااالفاظ ووتل:

لَاَن يَّرُبنِى رَجلٌ من قريش أحبُّ اِلىّ مِن اَن يَرُبنِى رَجلٌ من هَوازن

ژ: زه داغوره ګنم چې د قريشو کوم سړى مې تربيت وکړي دهغه نه چې دهوازن قبيلې کوم کس زما تربيت وکړي.

حنين څخه په ستنيدو رسول الله ص هغه ته بې شميره اوزې ورکړې ، صفوان چې کله هغه اوزې وليدې؛ ويې ويل: په خداى سوګنددومره

سخاوت خو دنبي نه پرته بل څوک نشي کولی، سملاسي مسلمان شو(استیعاب واصابه ترجمه صفوان بن امیه)

دسهیل بن عمرو اسلام راوړل:

دا دمکي داشرافو اومشرانوڅخه و، دقریشو دخطیب په نوم مشهورو، په حدیبیه صلح کې دهغه په لیدلو رسول الله ص وفرمایل:

قَد سَهلَ مِن اَمرِکُم

ستاسو معامله یوڅه اسانه شوه.

دمکي دفتح په ورځ سهیل خپل ځوی عبد الله رسول الله ص ته ددې لپاره واستاوه چې درسول الله ص نه دځان لپاره امان ترلاسه کړي، رسول الله ص ورته امن ورکړ، او صحابه ووته مخاطب شو ویې فرمایل:

مَن لَقِی سُهیلَ بن عمرو، فَلا یُحدُّ اِلَیه النَظرَ فَلَعَمري اِنَّ سُهیلاً لَه عقلٌ وَشَرَفٌ وَمَامِثلُ سُهَیلٍ یَجهَلُ الاسلامَ

ژ: کوم سړی چې دسهیل بن عمرو سره مخ شئ ، هغه ته دي په تیز نظرنه ګوري، سوګند زما په ژوند! په تحقیق سره سهیل ډیر هوښیار اوشریف دی، دسهیل پشان شخص داسلام نه جاهل او ناخبریاته کیدای نشي.

سهیل سملاسي اسلام قبول نکړ اوحنین غزا ته درسول الله ص سره ملګری شو اویه جعرانه کې په اسلام مشرف شو(حلبیه سیرة ۹۴/۲مخ)

او سوګندیې وکړ: چې دمشرکانو سره په ملګرتیا کې یې چې څومره جنګونه کړي ، هغومره به اوس دمسلمانانو سره په یوڅای کیدو هم کوم او څومره مال مې چې په مشرکانو لګولی هغومره به په مسلمانانو هم خرچ کوم (اصابه ۹۴/۲مخ)

یوه ورځ دحضرت عمر رض په دروازه کې خلک جمع وو او دهغه لیدلوته منتظر وو، سهیل بن عمر، ابوسفیان بن حرب، او نور دقریشو سپین ږیري وو، څوکیدارلخوا صهیب اوبلال وبلل شول، سهیل اوابوسفیان اودقریشو نورسرداران یې پریښودل، ابوسفیان وویل: دنن پشان منظر خو مې هیڅکله نه ولیدلی، غلامان وبلل شول، او موږ ته یې التفات هم ونکړ.

دي وخت کې سهیل چې څومره عاقلانه اودانشمندانه ځواب هغوی ته ورکړ هغه دزړونویه تختو دلیکلو وړدی سهیل ابوسفیان اونورو سردارانوته وویل: اې قومه! په خدای سوګند دخفګان اوغوسې نبتې ستاسو په مخونوکې ښکاري، پر ځای ددي چې تاسو په نورو غوسه شئ پخپلو ځانونو غوسه شئ، زکه دحق دین دعوت هغوی ته هم شوی و، او تاسوته هم؛ هغوی وا وریږ او قبول یې کړ او تاسو ځانونه مخکې وروسته کړل اویاته شوئ ، په خدای سوګند! دکوم شرف اوفضیلت په لور چې ددي خلکو ځغاستل اوتاسو دهغه شرف نه محروم پاته کیدل زما په نظرددې دروازې دمحرومیت نه زیات سخت دي په کومو خلکو چې تاسو رشک کوی قومه! هغوی له موږ نه سبقت وکړ اوکوم چې ستاسو د نظرونویه مخکې وشول، له دې وجې دشرف اوفضیلت مندلو لپاره اوس هیڅ بله لار نشته ، ددې بایللې شرف دتدارک او تلافی که کوم صورت دی نو هغه یواځې فی سبیل الله جهاد دی، او دخدای په لارکې ځان اوسر ځاروړ دي ددې لپاره تیارشئ، عجیبه نده چې الله تعالی تاسو دشهادت له دولت اونعمت نه مالا مال وګرځوي

سهیل خپله رابنکونکې ویناپای ته ورسوله، او لمنې یې خندوهلې اوهم هغه وخت دفی سبیل الله جهاد لپاره پورته شو اودخپلې کورنۍ او اهل وعیال سره یوځای درومیانو دمقابلې لپاره دشام په لور روان شو او دیرموک په جنګ کې شهید شو اوڅینې وایي:چې په [طاعون عمواس] باندې وفات شولنده داچې مقصد یې په هرصورت حاصل کړ زکه چې دطاعون مرګ هم شهادت دی. (استیعاب لابن عبد البرترجمه سهیل بن عمرو رض) نوربیا ان شاء الله

د مورچل وږمي

یو چا...

سپین کوچي

تازه مې نرولې د زړه باره ده یو چا
تازه،تازه مې کړې زړه ته لاره ده یو چا

په مات زړه یې توتې را تولومه، بیا ویشتلې
په ځمکه د باور رنه هینداره ده یو چا

څوک نه ورکوي هسې په خندا یو بل ته غاړه
په کلي کې ګیله کړې له ښاره ده یو چا

شېبه،شېبه پر شوندو چې راکاږي لمده ژبه
اخیستې بیا مزه له (استغفاره) ده یو چا

را یاده چې شي زړه خورمه، څوریږمه،خفه شم
یارۍ کې څه خبر کړې بیکاره ده یو چا

غزل کې دي اوس نه رانغاړې هغه شان دردونه
ګیله کړې کوچیه سپینه یاره ده یو چا

په شبګیرو کې

حافظ سمیع الله سمون

مونږ لیدلې دي مزې په شبګیرو کې
مونږ زده کړې دي قیصې په شبګرو کې

په لېمو مو د ګرېوان غېږې ته وړي
د مړو اوښکو جنازې په شبګیرو کې

په غفلت مو ګوره نه دي تیرې کړي
مونږه کړې دي سجدې په شبګیرو کې

مونږه کړې شبګېرې د خدای (ج) لپاره
مونږ شلولې زولنې په شبګیرو کې

رسولې مو دي سترو هدفو ته
بلا ډېرې قافلې په شبګیرو کې

در په یاد شي او که نه بلا دې واخلم
هغه ته چې به راتلې په شبګیرو کې

ستا د مات زړه د سمون په نیت مې وکړې
دعا ګانې او ګیلې په شبګیرو کې

راپسې مه رادرومه

هلال

راغلـه چاپـه زه درنـه ځـم راپسـې مـه رادرومـه
د خـدای اسـرې تـه دې سـپارم راپسـې مـه رادرومـه

د کلـي برسـر کـې غوغـا ده راځـي سـوې کړيکـې
بيـايې پـه چـا جـوړ کـړو تـورتم راپسـې مـه رادرومـه

جيټـې تـاويږي تـوره شـپه ده چورلکـو شـور دی
ډرون طيـاري ګـرځي پـه چـم راپسـې مـه رادرومـه

درز شـو نـارې ګـوره د کلـي مـنځ تـه ورسـيدې
رانيـږدې کيـږي دم پـه دم راپسـې مـه رادرومـه

چـې يـې د کـوم کـور دروازه پـه راکيـټ وويشـتله
کـه يـې ګـوزار کـړو پـه چـا بـم راپسـې مـه رادرومـه

بيـا کومـه نـوې شـوله کونـده کـوم بچـی يتـيم شـو
اورم ژړا ويـر او ماتـم راپسـې مـه رادرومـه

راکـړه ټوپـک چانتـه ګرنيـټ او د جنـګ واړه اسـباب
کـه مـې ويشـتل کـه يـې ويشـتم راپسـې مـه رادرومـه

مـورکی پـه ژونـد راتـه پـه وريـن تنـدی بښـنه وکـړه
خـدای خبـر بيـا چـې روغ راځـم راپسـې مـه رادرومـه

وروره تـه حـال د فـواد واخلـه چـې غـږ کـړي او کنـه
هـلال يـو څـه ورتـه وا يـم راپسـې مـه رادرومـه

د ختم نبُوّت عقيده"

"غقابي جانان"

شـکر لـرو مـونږه د خـتم نبُـوّت عقيـده
د محمـد رَسُـولُ الله د رسـالت عقيـده

هـم اولـين هـم آخـرين او هـم امـين رسـول دی
زړو کې لـرو ورتـه څـه ښـکلي د عظمـت عقيـده

له مال او ځان او له مور پلار نه راته ډېر محبوب دی
را زده کـړې پـاک قـرآن د محبـت عقيـده

دا زمـونږ يقـين دی او هـم دا زمـونږ د ايمـان برخـه ده
د هـر رسـول او هـر نـبي د معصـوميت عقيـده

لـه سـپين قـرآن نـه پرتـه بـل هـيڅ يـو قـانون نـه منـو
کلکـه سـاتلي مـونږ فقـط د شريعـت عقيـده

د خدای په فضل مو له شرک، بدعت نه ځان ژغورلی
موحـدين يـو مـونږ لـرو د وحـدانيت عقيـده

ځلـور مذهبـه واړه حـق دي "عُقـابي جانانـه"
سـپېځلي ده د اهلسـنت والجماعـت عقيـده

۲۰۱۹ زکال

دجولای د میاشتې جهادي خبرونه

الفتح عملیات

د افغانستان اسلامي امارت

په تیرو درو میاشتو کې په افغانستان کې د یرغلګرو او کوډاکیانو ځاني او مالي زیانونه

مې جون جولای 2019م

استشهادي عملیات 11

3289 عملیات پر دښمن ترسره شوي

وژل شوي یرغلګر 49

ټپیان شوي یرغلګر 22

وژل شوي کوډاکیان 7113

ټپیان شوي کوډاکیان 4688

نسکوري شوي چورلکي 3

نسکوري شوي بې پیلوټه الوتکي 2

تخریب شوي وسائط 1209

تسلیم شوي عسکر 2624

تسلیم شوي وسائط 21

shahamat1.com
الامارہ ویب پاڼه

alemarahweb90
الامارہ په ټویټر کې

alemarahweb1
الامارہ په ټیلیګرام کې

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal

ددې خاورې هر دښمن دې له دې انځوره پند واخلي. دا د هغه سرتيري وروستی يادګار دی چې دلته يې ماته ژړه
نه منله. خو نن يې له دې پرته نور څه نه دي پاته او په دې خاوره د بري ارمان يې ګور ته وړی.